# د انقلابي انسان څېره



ليکوال: احسان طبري

ژباړه: شرف واکمن

# د انــــقلابي انســــــان ځـــــــېره

لیکوال: احسان طبري

ژباړه: شرف واکمن

د کتاب نوم: د انقلابي انسان څېره

لیکوال: احسان طبري

ژباړه: شرف واکمن

د بریښنايي خپرولو نېټه: جنوری/۲۰۲۱

آيا کولای شو خپل نوم [انسان] کیږدو او بیا ووایو چې موږ بې پري یو؟

# د محتویاتــو لـــــړ


پیـــل ........................................ ۸

انقلابي زمانه، انقلابي انسان غواړي ................................۱۵

انقلابي انسان، انقلابي نړۍ لید ته اړتیا لري ..................................۲۰

انقلابي کېدل یواځې په نړۍ لید باندي نه، په عمل سره هم دي ...............۲٤

د انقلابي انسان د ځانګړتیاوو کوډکس ..................................۲۷

ایثار (تیریدنه) ..................................۳٦

انقلابي انسان او کورنۍ ..................................٤۰

د یو انقلابي انسان، دوست او دوښمن ..................................٤۳

انقلابي انسان؛ په بحثونو او قضاوتونو کې ..................................٤۷

انقلابي انسان ،ځان روزنه او ځان تنقیدونه..................................۵۲

انقلابي انسان؛ په عادي ژوندانه کې ..................................۵٦

څو فلسفي کیسې ..................................۵۹

## یـــــــــــادونه

دا کوچنۍ رساله لیکوال د ځینو ملگرو په غوښتنه لیکلې، تر څو د یو انقلابي انسان هغه څېره راوښیي، چي د ژوند په سختیو او پېچلتیاوو کي تاریخي او ادبي داستانونو هم د هغو کړني بیان کړي دي. دا لوی بحث ته، دا رساله ډېره لږه او نېمگړې ده، خو له نه څه څخه بیا هم لږ څه ښه وي. دا کوچنۍ رساله کولای شي، هغه مطلب روښانه کړي، چي زموږ په عصر کې ورته د [شخصیت تکامل] وایو.

د رسالې په پیل او پای کې (د څو فلسفي کیسې) متن تر نورو لسو اصلي څپرکو پېچلی دی، نو لوستونکی کولای شي له اصلي څپرکو څخه لوست پیل کړي، تر څو د متن پېچلتیا یې ستړي نه کړي. که چیري یې لیوالتیا زیاته وي، نو لومړۍ او وروستۍ برخه دې یې له نظره تیره کړي؛ د لیکوال د نظرهددا برخو علمي غناء زیاته ده.

له ټولو هغه ملګرو چې ددې رسالې په چاپ او ترتیب کې یې راسره مرسته کړې او نه یې غوښتل، چې نوم یې واخیستل شي؛ د زړه له کومي مننه کوم.

په پای کې دا یادون کوم، چې تاسي ته کوم داسې کتاب په لاس نه درکوو، چې په هغه کې د انسان د شخصیت سالم او ناسالم اړخونه بیان شوي وي؛ دا داسې کتاب دی، چې د یو انقلابي انسان اخلاقي کړه - وړه چې د هغه له شان سره باید برابر وي؛ پکښې بیان شوي دي.

په پای کې یو ځل بیا یادونه کوم، چې تاسي ته داسې اخلاقي رساله مخ ته نه ږدو، چې په هغه کې انساني ښېګڼې او بدګڼې بیان شوي وي؛ یوازې هغه اصلي اخلاقي مسایل، چې زموږ د عصر یو انقلابي یې باید ولري؛ پکښې راغلي.

احسان طبري

# پیـــل

ددې رسالې لیکوال ته، دوه شیان ښکاره دي:

لومړی، د اخلاقي چلند د ښه والي لپاره د مبارزې په لړ کي یوازي نصیحت کول، په ځانګړي ډول د لویانو او مشرانو لپاره؛ د لږي اغیزې درلودونکی کار دی. دویم، دا چي اخلاقي غوښتونکې مبارزه، په مترقي – انقلابي ګوندونو او مترقي ټولنو کي یو حتمي کار دی. ددې مبارزې یوازینی شکل، د حاضري مقالې په ډول، اخلاقي - فلسفي لیکل کول نه دي، بلکې ډېر پراخ اړخونه لري: کولای شو لیدونکي – اوریدونکي، دودیز او د ورځې وسایل پر کار واچوي، خو د نصیحت او تلقین شکل یې بیا هم د ګټې اخیستني دی.

معاصر علم چي (د انساني عواطفو ډیالکټیک) او د انسان د شخیصت جوړیدنې بهیر یې تر مطالعې لاندې نیولی؛ په دې باور دي چي کولای شو د انسان شخصیت پر دوو برخو وویشو: (پېچلی) او (آسان) همدارنګه د انسان شخصیت د دوو عواملو تر اغیزې لاندي ځانته شکل اخلي.

۱ - اول عامل فردي (وګړنیز) جبر دی، یعني: ارثي کوډونه چي له پخوانیو نسلونو راتلونکو نسلونو ته انتقالیږي او د عصبي کوډونو جوړښت (چي دا هم زموږ په لاس کې نه دی)[۱]. دا کوډونه زموږ د عمر تر لس کلنۍ پورې شحمي او شکل بدلونکی (پلاستیکل) حالت لري، وروسته یې دا حالت په تدریج سره کمیږي: په پای کې د اعصابو د غُدو ترشحات او د هغوی خوځښت منل او کنګل کېدل، د پاته غړو جوړښت یا د انسان ټیپولوژي جوړوي. دا د فردي جبري عواملو کوچنی مثال دی، چي له مخې

---
[۱] cortex

يې د انسان دماغي جوړښت رامنځته شوی او اغیزې یې د انسان په رواني جوړښت کې غبرگون مومي. بدلون راتلل ستونزه ده، په ځانگړي ډول، بیا په لوړ عمر کې، حتا ناشونې ده، نو پر دې اساس ورته د انسان د شخصیت پیچلې برخه وایو.

۲- د فردي جبر تر څنگ ټولنیز جبر هم د شخصیت په جوړښت کې برخه لري. یعنې طبقاتي ځایگی، هغه امکانات چې په مالي او فرهنگي برخه کې یې لري او د ټولنې آداب، دودونه او رواجونه هم پر شخصیت اغېزه پرېباسي.

**د فردي او ټولنیز جبر یو ځای کېدل، چې د انسان د شخصیت پیچلې برخه جوړوي او په لوړ عمر کې یې بدلون تقریباً ناشونی دی؛ کولای شو ووایو، چې ٪۸۰ خلگ په پیچلې برخه کې دي.**

٪۲۰ خلگ د شخصیت په آسانه برخه کې دي، چې وروسته له لس کلنۍ پرې روزنیزو پروگرامونو اغېزه کړې، خو هغه هم نسبتاً سربېرنه اغېزه ده او په آسانۍ سره بدلېدلای شي. د شخصیت ددې برخې د بدلون د زده کړې، د ټولنیزو شرایطو او امکاناتو د بدلون او د روزنیزو کړنلارو په خپلولو سره آسانېږي.

پر دې اساس نو شخصیت د ثابت[۲] او بدلېدونکو[۳] برخو څخه جوړ دی. د روزنې معاصر پوهان دې پایلې ته رسېدلي دي، چې انسان د وگړنیزو (ځاني) او ټولنیزو اړتیاوو لرونکی دی او دا اړتیاوې یې د شخصیت په جوړښت کې محوري او مرکزي ځای لري.

دغه اړتیاوې باید د لومړیتوب له مخې ډلبندي کړو، د اړتیاوو لړ یې ترتیب او وروسته د هغه اړتیاوو د پوره کېدلو معیارونه معلوم کړو.

[۲] Constant,immobile
[۳] Variabhle,mobile

په لنډ ډول سره اړتیاوې پر درې برخو ویشو:

۱) بیولوژیکي اړتیاوې لکه: کور، کالي، ډوډۍ، مصئونیت، روغتیا، آرام، جنسي اړتیاوې او نور... ددې اړتیاوو نه پوره کېدل د اضطراب او رواني ناروغیو سبب ګرځي.

۲) ټولنیزې اړتیاوې لکه: ګټه - وټه، د ټولني همدردي ترلاسه کول، متقابل درناوی او نور... ددې اړتیاوو نه پوره کېدل بیا د محرومیت سبب ګرځي.

۳) معنوي اړتیاوې: د نړۍ د پیژندنې، د خپل ژوندانه په موخو باندي پوهېدني او د اخلاقي اړتیاوو پوره کول. په دې اړه روسی لیکوال داستایوفسکي ډیره ښه خبره کوي:

"که انسان په دې باور ونه لري، چې ژوند یې ګټور دی او د یوې موخي لپاره ژوند کوي؛ که په نعمتونو کې ډوب هم وي، ښایي ځان وژنه وکړي."

دا درې ډوله اړتیاوي پر دوو برخو ویشو (ساتوونکي اړتیاوي چي د حد اقل د اړتیا د پوره کېدو لپاره دي) او (پوره کوونکي اړتیاوي چي د ودي لپاره لازم دي) او دا دواړه برخې په مثبت او منفي برخو ویشو.

ددې اړتیاوو غوښتوونکي هم په دوه ډوله دي:

۱- هغه ډله چې زیاتي غوښتني لري او غواړي پر خپلو ټولو غوښتنو بریالي شي.

۲- هغه ډله چې غواړي یوازي ماتي ونه خوري. په هر لوري کې آسانه پلټنه، پر سختي پلټني باندي برلاسي کیږي.

ایرانیان وایي: «د پور تر حلوا، نغده څپېړه ښه ده.»

هر مهال، د اخلاقي میعارونو پر اساس، د پوه کولو لپاره پوهاوی ورکول او اراده درلودل، بسنه نه کوي. باید د یو میکانیزم له مخي، خپلو هغو عواطفو او احساساتو ته چي پر روحیاتو مو اغېزه کوي؛ لاسرسی پیدا کړی او ویې سپړی، ترڅو وتوانېږئ د هغو په رازونو خبر شئ او تر څارنې لاندې یې ونیسئ.

دا هم باید درته معلومه شي، چې د کومو اړتیاوو پوره کېدل د ټولنې په ګټه دي، یعنې په واقعیت کې د ټولنې ګټه ستاسو ګټه ده او کوم د ټولني په زیان دي، چي د ټولني زیان بیرته ستاسي زیان دی.

باید تاسي خپلي ټولي هغه غوښتني او حیرانتیاوي، چې د ټولني په زیان دي؛ د عقل په واسطه مهار کړئ او هغه اړتیاوي او غوښتني مو چې د ټولني په ګټه دي؛ ډګر ته راوباسئ او لا یې پسې پیاوړې کړئ. یعنې په ځان جوړونه کې فعاله برخه واخلئ[٤].

دې موخي ته د رسېدو لار، د وګړو مجازات کول نه دي، بلکې د بیلابیلو اسلوبونو داسي پر کار اچول غواړي، چې په یو پوه انسان کې د بدلون اراده را منځته کړي او په یوې ناسمي کړني باندي انسان ته خپل په خپله، ځان بد وایسېږي. مثبت شخصیت، یعنې هغه څوک چي د ټولنې د ښېګڼو تابع وي؛ البته که یې کړني په شخصي ډول، دده په تاوان هم وي. منفي شخصیت یعنې هغه څوک، چي د خپل ځان د ګټو تابع وي، که څه هم دا کړنه یې د ټولني په زیان وي. د لیو تولستوي په وینا: مثبت انسان هغه څوک دی، چې خپل افکار د نورو د عواطفو په ګټه کاروي او منفي انسان هغه څوک دی، چې خپل افکار د نورو د عواطفو په زیان کاروي او د خپلې ګټې په لاسته راوړلو باندي ژوند کوي.

---

[٤] stance

دا توضيحات چي لږ او ډېر علمي - فلسفي ول او ددې رسالې له سبک څخه بهر هم دي؛ ددې لپاره راوړل شول، چې د روزنيزو علومو د پوهانو د ژور ليدونو تصور درته وښيو.

د روزونکو له خوا؛ د اړتياوو اړيکه، عواطف او په خپله د شخص له خوا، د هغو د کنټرول طريقه، په دې څو لنډو کرښو کې بيان شوي دي.

ننني علم پر همدې اساس، د نصيحت او تلقين له اغيزې څخه انکار نه کوي، په ځانګړي ډول چې دا کار د اړتياوو او عواطفو د ميکانيزم د سم درک له مخې ترسره شي او وکولای شي، خپلي اغيزې د انسان د شخصيت په آساني برخي او حتی د انسان د شخصيت په پيچلې برخه باندي هم پرېباسي.

زموږ شخصيت د تاريخي چاپيريال او د ژوندانه د تګلوري زېږنده دی او که دا لار سمه ونه وهي؛ ددې ګواښ شته، چې کنګل پاتې شي او يا د انحطاط سره مخ شي، ځکه زموږ شخصيت يو بدلېدونکی بهير دی.

نو موږ په سم ډول، د برلاسي عامل په پېژندلو سره، د خپل ځان او د نورو په روزنه باندي مکلف يو او هم بايد د مقابل لوري اړتياوو او د عواطفو ټولګې ته پام وکړو. د برلاسي عامل پيژندنه، چي د شخصيت په بهير کې شکل بدلونکی دی؛ آسانه کار نه دی، ځکه دا عامل کله ناکله ځان پټوي، کله بيا په خپله خپل ځان ددې اړخه نه را پېژني. يو يا څو ځاني، فردي، ټولنيزي او ارماني اړتياوي کولای شي په ټاکلي وخت کې پر شخصيت باندي برلاسي عامل باندي واوړي او رواني ليدلوری[5] يې رامنځته کړي، چي د عيني [ورځني] ژوندانه په چلند کې غوښنه برخه لري. دا برلاسی عامل شايد، په مثبت او يا

[5] disposition

منفي شکل ښکاره شي چي په هر حال کې یې د پیژندنې سره، د روزنیز اړخه زموږ د چلند اسلوب، بدلون پیدا کوي.

که خپلې خبرې را لنډې کړو:

۱) د انسان شخصیت د (پیچلي او آسانه) دوه اړخونو درلودونکی دی. پیچلې برخه یې د فردي جبري او ټولنیزو جبري عواملو د اغیزو محصول ده او د شخصیت آسانه برخه بیا انسان په خپل ژوند کې ترلاسه کوي.

۲) وګړی (فرد) په یوازې سر، د درې ډوله اړتیاوو لroونکی دی: فردي، ټولنیزې او ارماني اړتیاوې، چې کولای شي پیاوړي یا کمزوري، منفي او یا مثبت وي. په ټاکلي وخت کې، د څو اړتیاوو ټولګه پر شخصیت برلاسی عامل رامنځته کوي او په هغه وخت کې، د عیني واقیعت پر وړاندې، د هغه رواني لید دی.

۳) هغه امکانات چې انسان یې په لاس کې لري؛ د هغه اړتیاوې پوره کوي. دا امکانات د ټولني د تاریخي دود پر اساس وي او یا فرد په خپله هغه لاسته راوړي. ددې امکاناتو پر اساس، وګړی خپل د لیدلوري له مخې داړتیاوو د تر لاسه کولو لپاره ګام اوچتوي.

۴) د امکاناتو له مخې اړتیاوي په داسي حال کي ترلاسه کیږي، چې دا اړتیاوې نور هم لري او ددې اړتیاوو پر سر حتماً شخړه، مثبت او منفي عواطف او نور احساسات منځته راځي.

۵) زماني روزنه ددې اړخه هم اغېزناکه ده، چي د اړتیاوو، امکاناتو،[6]د عمل نقشې[7]، د کړنو لپاره د لیدلوري او د کړني د تګلاري میکانیزم هم د روزونکي په واسطه وپېژندل شي او هم زده کوونکي ته ور وښودل شي، او ځانګړې هڅه وشي، چي وګړی د خپلو

[6] assessment
[7] forecast

اړتیاوو او ټولنیزو اړتیاوو د همغږۍ د لوړتیا لپاره وهڅول شي او خپل ذهن او روحیات ورته آماده کړي.[٨]

دا لنډه هڅه چي د یو انقلابي انسان د څیرې اړوند ده؛ پرته له دې چي په بحثونو کې ژور ولاړ شو، یوازي تخنیکي یا اخلاقي کوښښ دی، ترڅو وتوانېږو د مبارزینو د تجربو پایلې بیان او له دې لارې، د شخصیت د لوړولو لپاره یو ډول پوهاوی رامنځته کړو چي لږ تر لږه، د انسان د شخصیت پر «آسانه» برخه باندي اغیزه پرېباسي.

[٨] د اړتیاو د ترلاسه کولو د میکانیزم کشف او د عواطفو دیالکتیک د شوروي په پوهانو پوري اړه لري، چي دلته مو یې انګلبسي اصطلاحات راخیستي. تراوسه پورې د داخلي شخصیت د پیژندني لپاره په تېزۍ سره کارونه روان دي او ژمنه درکوو چې په آینده کې به نوې زیاتونې او علمي څېړکي ور زیات شي.

## ۱.

# انقلابي زمانه، انقلابي انسان غواړي

**زموږ تاریخي برخلیک داسي راغلی دی، چي په یو حیرانونکي، انقلابي، اوښتونکي او له پېښو ډکي زماني کې نړۍ ته راشو او ژوند وکړو. موږ ددا زمان لومړنی او وروستی نسل نه یو، ځکه دا انقلابي زمانه څو نسله په بر کې نیسي.**

دې زمانې خپله پراخه معنا هغه مهال وموندل، چې بشر دې شعوري کچې ته ورسېدئ، چې موجود ټول ټولنیز نظامونه د انسان په واسطه جوړ شوي او انسان کولای شي، هغه د خپل ښه والي لپاره بدل کړي. څو پېړۍ کېږي، چي دا فکر په مختلفو شکلونو کې رامنځته شوی او یوه ډله انګلیسي، فرانسوي، آلماني او روسي فیلسوفانو په دې برخه کې د استدلال لپاره پراخ کتابونه لیکلي. په تیرو وختونو کې افلاطون د مریتابه د نظام د ساتني لپاره [نخبه ګانو حکومت] په تیورۍ کې خپلي هیلې مطرح کړي وې، خو ددې اصطلاح ځانګړې او محدوده مانا د انحصاري پانګوالۍ (امپریالیزم) پر وړاندي د مبارزې په انقلابي دوران کي رامنځته شو، چي د پانګوالۍ وروستی تکاملي پړاو دی او وروسته له دې ځېښناکګر نظام مجبوراً خپل ځای نوي نظام ته پرېږدي (او د لویو ځمکو مالکیت، قبیلوي مقررات، نرواکي، د مرئیتابه د نظام پاتې شوني او نژادي توپیرونه هم له منځه وړي).

معاصر بشریت په دې پوهیږي، چې نوی نظام باید کومي ځانګړتیاوي ولري:

- سوله او امنیت، د خلګو ترمنځ وروروولي، د ټولو همکاري او د ټولو ترمنځ مساوات تامین کړي.
- له انسان څخه د انسان څېښناك له منځه یوسي او لاسي او فکري کار د ټولنیز ملکیت څخه د ګټې اخیستني معیار وګرځوي.
- د ټولنیزو تعاوني انساني اړیکو له مخي، د علم، هنر اوفن پر اساس، مادي، معنوي او ورځنی اړتیاوي، پوره کړي.

د نن زمانې انسانانو، د لاسي او معنوي کار په واسطه، د اکثریت خلګو د ښه ژوندانه شرایط برابر کړي دي، خو یوازي د ټولنې لوړي طبقې ددې ویرې چې خپل امتیازات له لاسه ورنه کړي؛ ددې بدلون مخالفت کوي.

دې امتیاز لرونکې اشرافي طبقې چې د ظلم، ستم او جنګ له لارې یې ځان پر خلګو تپلی دی (نن ورځ یې په راس کې د امریکې لوي پانګوال دي) د ټولنې په اکثریت خلګو یې د ناپوهی او ویري جال غوړولی او د هغوی د دوکې له لارې یې د منسوخ او ظالمانه نظام د ساتني لپاره سنګر جوړ کړی او د هغه په واسطه د بدلون غوښتني او عدالت غوښتني هر ډول خوځښتونه ټکوي او له پښو یې غورځوي.

زموږ په عصر کې، د محافظه کارانو چې په راس کې یې بورژوازي، په ځانګړي ډول د امریکې لوی پانګوال دي او بل لور ته د بدلون غوښتونکو تر منځ جګړه ده، چې ورځ تر بلي چټکه کیږي.

بدلون غوښتوونکي او محافظه کاران زیات ډولونه لري.

په بدلون غوښتوونکو کې ترټولو مخکښه او شعوري ډله، د مادي نعمتونو تولیدونکي دي، چې په اوسني نظام کې کومه ګټه نه لري او ورځ تر بلې په دې پوهیږي، چې په دې نظام کې څه له لاسه ورکوي؟

انقلابي مخکښان صنعتي کارگر او د هغوی ریښتیني ملگري دي، چې د ټولو بدلون غوښتوونکو پر وړاندي گام اخلي. د هغو گوندونه د زاړه نظام پر وړاندي په جگړه کې ډېر پیاوړي او کله هم ټاکونکې برخه لري.

هغه څه چي نن ورځ یې انقلابي جگړه توده کړې، هغه په یو لړ هیوادونو کې د خلگو او انقلاب د بریالیتوب لپاره، د بشریت د ژوندانه د مثبت بدلون په گټه رامنځته شوي (ټول سوسیالیستي یا امپریالیستي ضد) خوځښتونه دي. زموږ په نظر ددې ځواك په مرکز کې شوروي اتحاد دی او په بله خوا کې یې د امریکې متحده ایالات دي، ځکه شوروي اتحاد په نړۍ کې لومړنی سوسیالیستي هیواد دی، د هره اړخه تجربې لري، پیاوړی دی او په تاریخ کې یې د بشریت په گټه لویې - په وینو لړلي آزمویني ورکړي دي او د هغه پېچلي تگلوری یې تجربه کړی دی. له ښه مرغه، زموږ هیواد له وروستي انقلاب څخه وروسته د بدلون غوښتنې په کتار کې ولاړ دی او وخت په وخت خپله نړیواله – تاریخي ونډه روښانه کوي.

د ایران انقلاب هر ایراني ته دا خبره روښانه کړه، چي له چا سره دي؟ د بدلون غوښتوونکو سره، که یا له مرتجعینو سره چي په سر کې یې امریکا ده؟ له دې پوښتني څخه څوك تېښته نه شي کولای. د سیاست څخه تېښته پخواني نسکور شوي رژیم کوله او چا چې د هو یا نه ځواب ورکړ، د هغه له پایلو څخه هم تیښته نشي کولای او خپله ژمنتیا باید وساتي.

ځیني خلگ بیا هوښیاري کوي او وایي: موږ دا ډلبندي نه منو، موږ دواړه زبرځواکونه ردوو، موږ خپله دریمه لار پالو، نه له دوی سره او نه له هغو سره یو. موږ نه پوهیږو چې څوك پر حق دي؛ موږ غواړو خپل خصوصي ژوند په چوپتیا سره تېر کړو. باید ووایو چي دا ځواب قانع کوونکی نه دی. تاریخ موږ ته دندي روښانه کوي او لاري راته ټاکي.

دا چې دا بدلیدونکې نړۍ په کوم ځای کې او په څه ډول سره سمبالېږي؛ مجبوراً مالومه نه ده. هغه څه چې اړین دي؛ د بدلون ضروري او عمومي ځانګړتیاوي موندل دي، هغه څه چې اړین دي؛ دادي چې څوک ددې بدلون سره مخالف دي او ددې محافظه کارانه ځواک سره باید څه وشي؟ اړینه ده، چې پوه شو، څوک دا بدلون ضروري ګڼي او ددې بدلون غوښتونکي ځواک سره باید څه وشي؟ دا په خپله بشریت دی، چې د بدلون شکل یې د ځان لپاره په نړیوال مقیاس کې پیدا کړی. د نن ورځې اصلي مسئله داده، چې باید وضعیت بدلون وکړي.

په دې اړه، زموږ ځواب روښانه دی:

۱- پر یاد شوي لوري بدلون حتمي دی.

۲-هغه محافظه کاره ځواکونه چې غواړي ژوند ته په پخواني زاړه شکل سره دوام ورکړي؛ باید پروړاندې یې مبارزه وشي.

۳- د هر وګړي د توان په اندازه، باید د بدلون غوښتوونکو ځواکونو ملاتړ وشي.

۴- په دې حکم باندي ښایي تېر وځو، خو دا چې واقعیت دی؛ نشو کولای چې ترې وتښتو. کولای شو په دې اړه زیات کتابونه ولیکو، خو په لنډه توګه سره، زموږ د عصر اصلي مسئله همدا ده:

[انسان یې، ایرانی یې، د انقلاب په دوران کې ژوند کوې؛ د انقلاب لوری، دوست او دوښمن یې مالوم دي.اوس ووایه ته څوک یې؟]

**آیا کولای شو خپل نوم [انسان] کیږدو او بیا ووایو چې موږ بې پري یو؟**

ځکه خو انقلابي زمانه، انقلابي انسان غواړي، نه بې پرې انسان. په دې کې هم شک نشته چې د انقلاب په مبارزې کې ګډون داوطلبي غواړي، ځکه دا داسې جګړه ده، چې تر مرګه به دوام لري نو باید د هر برخلیك لپاره تیار واوسو.

تاریخ موږ ته همدا برخلیك ټاکلی دی، چې:

«موږ باید په رضاکارانه ډول سره، تر خپلې وسې پورې د بدلون او انقلاب دوښمنه عناصرو پروړاندې وجنګیږو او د انقلابي خوځښتونو ملاتړ وکړو. موږ د خپلې زمانې د انساني کرامتونو (قربانیان) یو.» دا وو، دې تاریخي خطاب ته، زموږ ځواب!

# ۲.

## انقلابي انسان، انقلابي نړۍ لید ته اړتیا لري

دا طبیعي ده هغه څوك چي غواړي د انقلاب لپاره ودرېږي؛ انقلابي نړۍ لید ته اړتیا لري.

زموږ د هیواد د ۱۳۵۷ په لوي انقلاب کې، دوه ډوله انقلابي نړۍ لیدونو فعالیت کوئ؛ یو د رسمي انقلابي واکمنۍ دی او بل د سیاسي اسلام د پیروانو فعالیت.

سیاسي اسلام، دین له سیاست څخه جلا نه ګڼي او عبادي مراسمو ته په سیاسي اړخ ورکولو قایل دي. حکومت د ضعیفو خلګو حق ګڼي او د نړیوال امپریالیستي استکبار او د هغه د ځواك له هستو سره مبارزه کوي. دا تفکر امام خمیني په خپلو افکارو کې روښانه کړی دی او پر نړۍ یې تنفیذ ضروري ګڼي، په ځانګړي ډول پر اسلامي نړۍ باندي.

موږ په دې برخه کې د بحث کولو صلاحیت ځان ته نه ورکوو، هغه څوك چي یې لیوال وي؛ کولای شي په دې برخه کې لیکل شویو کتابونو ته دې مراجعه وکړي.

**بل انقلابي عملي نړۍ لید، مارکسیزم - لنینیزم دی، یعنې د مارکس، انګلس او لنین لاربښوني، چي علمي او عملي کشفیات دي او په سوسیالیستي هیوادونو کې کمونیستي ګوندونو منلي دي. دا نړۍ لید، یو ډول دیانت نه دی، خو د هر ډول دیانت پر ضد یې خپل مخالفت هم نه دی اعلان کړی او یو ټولنیز، اقتصادي او سیاسي نړۍ لید دی.**

زموږ په نظر د انقلابي اسلام او د مارکسیزم اصیل نړۍ لیدونه، پرون، نن او سبا کېدالی شي ورته والی ولري.

خو پخواني حاکمان او امریکایي مارکسیزم غواړي، ددې دوو صمیمي ملګرو ترمنځ واټن را منځته کړي او د همکارۍ او ملګرتیا پرځای د کفر او ایمان دوښمني رامنځته کړي.

اصلي مارکسیستان هیڅکله هم په دې دام که نه دي لویدلي او همامغه د انقلاب له پیل څخه یې د امام د پیروانو سره خپل مشترك وجوهات ښکاره کړي دي، خو له بده مرغه د مسلمانو مبارزینو ځیني ډلې د هغه تېروتني ښکار شول، چې د بدلون په لار کې په نامردۍ سره ترسره شوې. د امپریالیزم جاسوسان او یا لنډ فکري، ددې پر ځای چې د انقلاب او د انقلاب ضد ترمنځ تفکیک وکولای شي؛ ددې تفکیك پرځای، د انقلابي اسلام او انقلابي مارکسیزم ترمنځ زیان اړوونکی جلاوالی ترویجوي، چې ددا تفکیك را منځ ته کول، بدلون غوښتونکي غورځنګ ته لوي زیانونه اړوي.

مخکې مو یادونه وکړل، موږ د اسلام روښانه کولو په باره کې چې وکولای شي د عصر مسایلو ته ځواب ووایي؛ د بحث له پیلولو پرته یوازې دا وایو چې په مثبت نظر ورته ګورو. هغه څه چې مارکس په تاریخ کې د (محمدي انقلاب) په نامه نومولی؛ په خپله د قریشو د اشرافیت پر وړاندې پاڅون و، د بیوزلو په ګټه وو.

د انقلابي اسلام څخه زموږ روښانه اخیستنه همدا ده. موږ له انقلابي مسلمانانو څخه همدا هیله لرو. که چیرې د مغرضو خلګو خبرو ته غوږ ونه ونیول شي؛ نو مسلمان انقلابي به له دې څخه بله لاره ونه ټاکي، خو شر اچونکي خلګ کومي مغالطې او افواهات نه دي، چې په دې اړوند یې نه خپروي.

د مارکسیستي نړۍ لید او د هغه د برخو (فلسفې، اقتصاد او علمي سوسیالیزم) په باره کې په دې لیکنه کې وضاحت ورکول اړین نه بولم، ځکه په اړه یې زیاتي لیکني شوي؛ مینه وال کولای شي لږ تر لږه هغه مطالعه کړي او د هغه پر اساسي ترینه مسایلو باندي ځان پوه کړي. لوستونکو ته زما وړاندیز دادی، چي مارکسیستي - لنینیستي نړۍ لید په خپل جامعیت او کُلیت کي ولولي، یعنې د نړیوال انقلابي غورځنګ او د ایران د انقلابي غورځنګ له تاریخ، د سمبالوني او رهبرۍ هنر او د مبارزې له تاکتیک او ستراتیژۍ څخه هم خبر شي او د (نقل قول اخیستني) د تګلاري څخه ډډه وکړي، ځکه دا کړني د سیال علمي مارکسیزم مخالف دي.

مارکسیستي نړۍ لید په دریو کچو کې ترلاسه کولای سو:

**۱- د عالي تیوریکي کچي لپاره اړینه ده، چې د لومړنیو کلاسیکو سرچینو په مطالعې او څېړني باندي وخت ولګوو. په ځانګړي ډول بیا، په یوې برخي کي د تخصص د لاسته راوړلو لپاره (د بېلګي په ډول اقتصاد).**

**۲- په عمومي کچه بیا، د مارکسیستي نړۍ لید څخه د نسبتاً ژوري او ټوله ئیزي اخیستني د درلودلو لپاره، د تیورۍ د بیلابیلو نورو برخو مطالعه.**

**۳ـ د اړینو مقولاتو، احکاماتو، استدلالانو او پایلو اخیستنو څخه، د ټوله ائیزي خبرتیا او پوهاوي د کچي زیاتول. ځینې مقولات او مباحث کولای شي، لږ تر لږه یا تر مطلوبي کچي پوري وي او یا هم کیدلای شي اجمالي او تفصیلي وي.**

د ښوونکو او تبلیغونکو ماسپوا، نورو عامو انقلابیانو ته دریمه کچه بسنه کوي. ولې ددې کچې خبرتیا درلودل اړین دي؟ په دې چې یو انقلابي مبارز په خپله وتوانېږي، خپلې زده کړې پر کار واچوي، تر څو پر خطا او کږو لارو ولاړ نه شي.

انقلابي نړۍ لید د مسایلو د عقلاني درك سربېره، د هغو عاطفي درک ته هم اړتیا لري، یعنې ایمان درلودلو ته. قانع کېدل بیا د ایمان درلودلو څخه جلا دي. زه قانع یم چې دا کړنه سمه او هغه ناسمه ده، خو هغه وخت ویلای شو، چې ایمان لرو، کله چې له هغه سمې چارې سره د لېوالتیا سربېره مینه وکړو، د ناسمو کړنو څخه بېزاري وښیو او پر نا سم باندې، د سم د بریالیتوب لپاره مبارزه وکړو.

نو انقلابي نړۍ لید ایماني اقناع، د زړه او ماغزو ایمان او د زړه عاطفې ته هم اړتیا لري. دا یوه وچه کلکه فزیکي تیوري نه ده، چې موږ یې یوازې کره والی ومنو، بلکې دا یو سپیڅلی ټولنیز باور دی، چې موږ یې د پرمختګ لپاره د قربانۍ تر بریده تیار یو.

انقلابي نړۍ لید، د انقلابي انسان لپاره لارښوونکی ستوری دی. هغه نړۍ او تاریخ ته په تکاملي تګلوري کې ګوري او بشري دنده یې روښانوي. دوست، دوښمن، نیک او بد د حقیقت پر اساس ور پېژني، ژوند ته یې موخه ورکوي او ورکه لار ورښیي.

**پرته له انقلابي نړۍ لید څخه انقلابي انسان کېدنه ناشونې دي. د زاړه نظم سره، د جګړې هغه روح، چې په یو انقلابي انسان کې شته؛ یوازې د انقلابي نړۍ لید په واسطه، د کږو لارو، انارشیزم، تروریزم، شخړې جوړونې او نورو ستونزو څخه، د متشکل، موخه لرونکې، تاریخ جوړونکې او پنځونکې ټوله ائیزې کړنې پر خوا بېول کېږي.**

# ۳.

# انقلابي کېدل یواځې په نړۍ لید باندې نه، په عمل سره هم دي

ځینې خلګ داسي فکر کوي چي یوازي یې انقلابي نړۍ لید منلی وي او د مخالفینو سره یې د بحث پر مهال، د انقلابي نړۍ لید څخه په ډېر شور او ځوږ سره دفاع کوي، خو د ژوند په نورو چارو کې بیا عادي چلند کوي؛ نو بیا هم دی یو انقلابي دی.

دا تېروتنه ده!

انقلابي نړۍ لید هلته په یو رښتیني انقلابي انسان کې روښانه کېږي، چي انقلابي عمل ورسره مل وي. **د تیورۍ او پراتیک پایله او یو ځای کېدل**؛ د انقلابي نړۍ لید د اصلي اصولو او قواعدو څخه دي. د لا زیاتي پوهېدني لپاره به ووایو، چي تاریخ د ځاني کړني (چلند) او ټولنیزي کړني (پراتیک) څخه جوړ دی. عمل [کړنه] د تاریخ جوهر دی. خبري او افکار پرته له عمل څخه ناقص او نیمګړي دي. څه یو ښه بېلګه ده، چي وایي، تیوري قطب نماء او عملي خوځښت، بېړۍ ده، پرته له بېړیه قطب نما درلودل بې ګټې دي.

فردي کړني د انسان په ځاني او فردي اخلاقو کې غبرګون پیدا کوي.

ټولنیزه کړنه یا پراټیک د طبقاتي او نظامي مبارزې، رهبرۍ، مدیریت، تولیدي صنعتي او کرنیزي سمبالوني، علمي تجربې او د هغه د نورو شکلونو په څېر ښکاره کیږي، همدا ټول د تاریخ هڅي او غورځنگونه دي.

یو انقلابي باید هم په اخلاقو او هم په کړنو کې خپل انقلابي نړۍ لید ته انعکاس ورکړي. خبري آسانه او عمل سخت دی. د موخي پر لور گټور عمل کولای شي، خپل قول په واقعیت بدل کړي.

څکه خو وایي (وگورئ چي څه کوي، دا مه گورئ چې څه وایي؟) یا یو ډیپلوماټیک طنز دی چي وایي: (خدای انسان ته ژبه ددې لپاره نه ده ورکړې، چي خپل افکار پر بیان کړي، بلکې ددې لپاره یې ورکړې ده، چي هغه پرې پټ کړي!)

یعنې څه؟ یعني دوکه کونکي عناصر د ژبې په وسیله خپل واقعي نیت بیانوي او ځان درته بریالی ښیي، خو په عمل او واقعیت کې یوازي د پیسو، موقف، او مقابل جنس سره مینه کوي. پر داسي کسانو باندي هیڅ مهال تکیه نه شو کولای. هغه څوک چي مغالطې کوي، هغه څوک چي ځان خوښی وی، جنسي زلخوري او عیاش وي، کینه کښ او د رزالته ډک وي، خپل ځان په ناروا ډول لوړو موقفونو ته رسوي، د خپلو ملگرو سره خیانت کوي، د قربانۍ او ښښنې پر مهال د خپل ځان او مال څخه د تېرېدنې ډډه وکړي او په خپله کورنۍ کې مهربانه نه وي؛ داسې سړی هیڅکله او هیڅکله یو رښتینی او واقعي انقلابي انسان کېدلای نه شي!

داسي څوک حتی نه شي کولای د انسانیت دعوه وکړي. نو ژبو ته مه گورئ. لاسونو ته وگورئ. د خواجه عبدالله انصاري د قوله: (هغه بیه چي پرې کوې یې). عام خلگ وایي:

«ژبه د غوښي ټوټه ده، کولای شي هر پلو ته واوړي. د انسان گوهر په عمل او د ژوند په لوړو - ژورو کې ښکاره کیږي.»

د خلکو د پیژندلو لپاره د هغه ادب او مهربانۍ ته پاملرنه بسنه نه کوي. البته ادب او مهرباني ډیره ښه ده، خو د کړني او چلند اساس ټولنیز لوری لري. ښایي یو څوک په ښکاره سره ډېر توند او بدچلنده انسان وي، خو په کړنو کي بیا قرباني ورکونکی او ښوونکی وي.

زموږ په هیواد کې ادب او مهرباني، د یو انسان لپاره د ښه والي نښي گڼي. موږ هم په دې باور یو، چي ادبناکه او مهربانه واوسو، دا د فرهنگ نښي دي، خو موږ دا نښي د شخصیت په مهم والي او ښه والي نه بدلوو. د شخصیت له مهمو او مثبتو نښو څخه، د ټولني په گټه ټولنیز تفکر او ددې تفکر لپاره اغېزناکه کړنه ده.

لکه څنگه مو چي وویل، د یو چا د پیژندلو لپاره د هغه ځاني عمل (اخلاقي تگلاري) او ټولنیز عمل (انقلابي پراتیک) ته باید پام وکړو.

داسې خلك هم شته چې انقلابي نړۍ لید لري، په پوره ایمان سره په انقلابي پراتیک کې فعاله وي، خو په اخلاقي چلند او فردي چلند کې:له کورنۍ سره، له ملگري سره، له ښځې / خاوند سره، د ژوند په ورځنیو مسایلو کې غیر منظم او کله بیا ډېر ناوړه چلند کوي.

ژوند د کوچنیو -کوچنیو کړنو ټولگه ده او یو انقلابي انسان ته اړینه ده، چي په خپلو ټولو کړنو کې ادابو، ښکلا او پرهیزگارۍ ته ځای ورکړي.

# ۴.

# د انقلابي انسان د ځانګړتیاوو کوډکس[۹]

کوډکس د معیارونو ټولګې ته وایي. له کوډکس څخه زموږ موخه د انقلابي انسان ځانګړتیاوې او اخلاق دي، دا هغه معیارونه او ځانګړتیاوې دي، چي د انقلابي انسان په چلند او ټولنیز پراتیک کې منعکس کیږي.

د پیل د خبرو په توګه باید ووایو، چي انسان په خپل ژوند کې د یو بهیر[۱۰]په حکم کې دی، له ماشومتوبه تر زړښته پوري یو شان نه پاتې کیږي. هم د فیزیولوژیک اوهم د ټولنیز اړخه بدلون مومي.

په دې بهیر کې تغیرکیدوونکې برخه[۱۱] او نسبي نه بدلیدوونکې برخه[۱۲] راځي. نه تغیر کیدوونکې برخه عصبي هورموني او عضلاتي ځانګړتیاوي یا په یوه ټکي کې (سایکو- سوماتیک) دي او د انسان هغه روزنه ده چي د ژوندانه په لومړي پړاو کې یې ترلاسه کړې. البته تجربو ښودلې ده، چي د انسان د شحصیت نه بدلیدونکې برخه د ټاکلې اندازې سره بدلون کوي، خو د تغیر منونکې برخې په نسبت یې بدلون ډېر سخت دی.

ځیني معاصرې تیوریاني دې پایلې ته رسیدلي دي، چي له ۵-۱۰ او یا د ۷-۱۰ کلنۍ پوري عمر د انسان په ژوند کې بنسټیزه ونډه لري، ځکه په دې عمر کې د جسمي اړخه د

---
[۹] codex
[۱۰] processus
[۱۱] variable
[۱۲] invariable

انسان ښه روزنه کولای شي، په رواني برخه کې خپل د پام وړ اغېزه پرېباسي او انسان د ژوند د جګړې لپاره چمتو کړي. په خاص ډول د انسان اراده غښتلې کوي.

ژوند يوه جګړه ده او هغه هم پيچلې جګړه، هغه څه چې موږ يې تمه نه لرو، هغه جګړه چې جسمي -عصبي ځواک غواړي.

**ژوند، د زغم سره يو ځای، د موخو د لاسته راوړلو د هنر زده کړه ده. ژوند سخت دی. ژوند د کار او هڅو يو بهير دی. کار؛ د پنځولو او زيار او د برياليتوب او خندونو د ليري کولو لپاره!**

بشري تاريخ، ادبي کيسې او د پرګنو داستانونه، ددې بهير ډېري سختي برخي، چي [ژوند] نومېږي؛ له ځان سره لري. دا کيسې په بيلابيلو ډولونو سره، د زور، دوکې او شتمنۍ د لوړوالي صحنې، په حقيقت، شرافت او ميړانې سره ښيي او تر څنګ يې د انسان هڅي، د ميني حماسې، عدالت او واقعيتونه هم بيانوي. په تاريخ کې غمجني صحنې تر اوسه هم پېښېږي، خو بيا هم د تاريخ لوری د تکامل او پرمختګ پر لور رهي دی.

انقلابي انسان، د خپل چاپېريال زېږنده دی. کولای شو چاپيريال په (تاريخي چاپيريال) او ټولنيزچاپيريال (آدابو، دودونو، قانوني معيارونو او کلتورونو) او پر کورني چاپيريال وويشو. له پخوا څخه دا د انسان ځاني ژوند ليک دی، چي په دې درې ګوني چاپيريال کې يې ليکي او د خپلې هڅي او کار سره، ټولنيز او طبيعي خنډونه ليري کوي.

د دې پيچلي بهير په لړ کې، انسان دې ته ګومارل شوی وي، چي يوازي د ژوندانه په پېژندلو سره ځان پياوړی کړي. زموږ په هيواد کې، تر ډېره ژوند نه پېژندل کيږي، ځکه چي نه ورښودل کيږي او زموږ روزنيز سيستم (چي د کورنيو عواطفو څخه سرچينه لري) ماشوم داسي نازولی، ړوند او کوڼ روزي، چې له ژوند سره يې هر ټکر ورته يو

حیرانونکی کشف وي. کله چې همداسې وړاندې ځي؛ نور له ژوند سره پخوانۍ مینه نه لري.

سمه ده، چې د انساني روان او اروا په جوړښت کې نور اغیزناک عوامل هم شته، چې د ښوونځی او کورنۍ په واک کې نه دي، خو بیا هم دا دوه بنسټونه د ماشوم په شخصیت جوړولو کې اړینه ونډه لري.

ومو ویل چې، انسان په چاپیریال کې، د پېژندنې او موندنې سره، د خپل ځان د پیاوړتیا لپاره ګومارل سوی دی. ځکه د انسان د ژوند تګلوری کېدلای شي، کله د ځوړ، کله د لوړوالي او کله د پاشلتیا پر لور روان وي. ځینې ډیر ژر په پخواني انسان بدلېږي او د چاپېریال تر اغیزې لاندې راځي: مزو او چړچو، نشه یي توکو څخه ګټې اخیستلو، بشري ضد دندو درلودلو او نورو کړنو ته مخه کوي، په رواني او نورو ناروغیو اخته کیږي او د یو سالم انسان ټولې ځانګړتیاوې له لاسه ورکوي. هغه یوازې یو تش بې روانه او بې عاطفې جسم وي. ژوندی مړي وي.

دا په خپله انسان دی چې باید هڅه وکړي، په خپل ژوند **کې** د شناخت (پېژندنې)، چلند، ټولنیزو اخلاقو، ذوقي او د ښکلا پیژندنې په چارو کې سمې او مناسبې ټاکنې وکړي، انساني جوهر په خپل ځان کې پیاوړی کړي او معنوي شخصیت تر لاسه کړي.

د یو انقلابي انسان د ځانګړتیاوو او اخلاقو (کراکټر) د یو ترلي کوډکس جوړول، ناسم کار دی. په ځینو ځایونو کې ځانګړتیاوې لازمي او په ځینو ځایونو کې خامخا لازمي نه دي، حتی زیانمنونکي لا دي. ځینې ملګري غواړي، پوه شي د یو انقلابي انسان لپاره کومې ځانګړتیاوې ډېرې اړینې دي.

موږ هڅه کوو، د هغو څخه ځینې دلته راوړو:

## ۱- پر انقلابي لاري باندي ايمان درلودل او داوطلبانه قرباني ته چمتووالی.

د انقلابي لارې په سم والي او کره والي باندي ټينګ باور درلودل.

## ۲- ميړانه او زړورتيا.

البته داسې يو څوک چي هيڅکله ونه ويريږي؛ نشته. (غير له هغه چا څخه چي رواني ناروغي لري). خو زموږ د يو معاصر ليکوال په اصطلاح کولای شو، وېره (د ځان تابع کړو) يعنې خپل پر ويري باندي غالب شو، نه بايد وېره پر موږ غالبه شي او زموږ انقلابي او انساني حيثيت برباد کړي! له هغه ځايه چي د انقلاب دوښمنان په دې هڅه کې دي، چي د يو انقلابي د ماتولو لپاره د وېري له عامل څخه ګټه واخلي؛ نو ډېره اړينه ده، چي يو انقلابي په دې هکله خپل ځان درک کړي او ويې پېژني. يو انقلابي انسان بايد له لاپو ـ شاپو پرته په دې پوه شي، چي ډارن انسان دی که نه؟ که ډارن وي، د خپلي ويرې پر مهارولو برلاسی دئ، که نه؟ که ډارن وي او د خپلي ويرې په مهارولو باندې هم برلاسی نه وي؛ نو په سختو انقلابي شرايطو کې چي انقلابي انسان په زندان او تعقيبونو باندي محکوم کيږي او له مرګه سره يې سروکار وي؛ نو د انقلابي فعاليتونو په دروازه کې دي ګام نه ږدي او که چيري د انقلابيانو ملګری وي؛ نو له لرې دې يې سيل کوي. عملي کار او ګام دې نه قبلوي، ځکه بار يې نه شي وړلای. البته خبره دومره آسانه نه ده. ځيني خلګ بيا د ژوند پړاوونو، شرم او حياء، ملګرتياوو، نه اټکل کېدونکو پېښو، ژرتيريدوونکي عواطفو او نورو شيانو په ناآګاهانه ډول، د انقلاب د ګرداب په منځ کې راوستلي وي او تر څو چي دوی پوهيږي څه شوي او څه رامنځته شوي دي؛ سخت پکښې راګير وي. که څوک دا محسوسوي، چي د انقلابي سپيڅلي او له دردونو ډکې مبارزې له عهدې وتلای نه شي؛ نو هغه شريف انسان - د خپل شرافت د ساتني لپاره، د ناوخته کېدو ترمخه بايد خپل د سنګر ملګرو ته ووايي، چي ددې بار د اوچتولو نه دی او

په دې کې يې ګڼه ده، چې خپل ځان ګوښې ته کړي او که چيرې يې دا هم ونه شواى کړاى؛ نو خپله هڅه دي د اسارت په زندان کې پر کار واچوي، تر څو خپله ويره تابع کړي او پرېنږدي، چې ويره يې؛ د خلګو د افشاء کولو، تورنولو، د رازونو په سپړلو، له خپلې عقيدې څخه تيرېدلو، پښېمانۍ او خپل شخصيت کوچني کولو ته اړ باسي.

د دوستانو او ملګرو د باور خپلول خورا اړين کار دی. هغوی پوهېږي، چې مرد او نامرد څوک دي، زړور څوک دي او ډارن څوک. د شاعر په وينا (ډارن خلك په هيڅ نه ارزي) د ايران انقلابي غورځنګ په دې برخه کې ډېرې ترخې تجربې لري.

**مګر ميړانه هم بايد د بې پروايۍ، بې سُرۍ، بې باکۍ او د اداکارۍ (اکټرۍ) سبب ونه ګرځي. ميړانه د دقت او منطقي احتياط نفي کونکې نه ده. مېړانه بايد د حساب او عاقلانه مراعات سره وي. انقلابي انسان بايد له ماجرا جوړوني څخه ډډه وکړي او د چټکي پهلوانۍ ميدان رامنځته نه کړي. رېښتيني زړور خلګ صبرکونکي، نرم، بې ريا او ډير ادبناکه (مودبه) وي. هغوی د خپل کار په اغيزې باندي فکر کوي، نه په هغو لارو، چې دی اتل وښيي.**

## ۳- راز ساتنه د مېړاني زېږنده ده.

په دې بحث کې اړينه ده، چې انقلابي غورځنګ په سختو ارتجاعي حالاتو کې عمل وکړي، څکه په دې حالت کې د انقلابي غورځنګ قانوني کار بدلېږي. د انقلابي غورځنګ ټولي مبارزې د داسې دوښمن سره دي، چې هغه ته د ساه اخيستلو او حرکت اجازه هم نه ورکوي (د شاه، ساواک او د نسکوريدونکي واکمنۍ په څير). نو هر انقلابي داسي مطالب لري، چې پوليس غواړي د تېرايستني او هري ممکنې لارې څخه باندي خبر شي. راز ساتنه هغه وخت آسانه ده، چې انقلابي انسان لږ رازونه له ځان سره وساتي او اطلاعات يې د خپلې دندې له حدودو څخه وانه وړي.

تیرو ترخو تجربو موږ ته ښودلې ده، هغه څوک چې زیات پوهیږي؛ کله چې تسلیم شي نو غورځنګ ته نه جبرانېدونکي تاوانونه اړوي. که چیري د مبارزې په بهیر کې مالومه شي، چې یو څوک له حده زیات مالومات لري، نو په وخت سره یې له مبارزې لرې کړئ او د هغه حیثیت او د مبارزینو ژوند په خپل وخت سره وژغورئ.

**منطقي رازدرلودنه، د (حیله) او مخفي کاریو ماسېوا یو ډېر ستر هنر دی.** په غورځنګ کې پټې او ښکارې را منځته کیږي، چې موږ باید وکولای شو ددې دواړو منطقي حدود تشخیص کړو او علنیت، چې د غورځنګ د ډموکراټیزم ښودونکی دی؛ باید تر لازم حد پوري مراعات شي.

## ۴ـ ډډه کول او ځانساتنه

(پرهیزګاري) د یو انقلابي انسان له اړینو ځانګړتیاوو څخه دي. په ژوند کې ډېر شیان دي، چې زړه را ښکونکي او جلبونکي وي، خو دا هر څه د انقلابي انسان لپاره نه دي؛ هغه باید وکولای شي چې په داسي مواردو کې ډډه ورڅخه وکړي. ډډه کونکی او پرهیزګاره انقلابي انسان هغه آس چلونکی دی، چې په ټولو هغو مواردو کې چې لازم وي؛ مخکې له دې چې کومه ستونزه رامنځته شي، خپل آس مهارولای شي.

د ځان ساتنې لپاره اراده اړینه ده، یعنې د داخلي وسوسو او غرایزو پر وړاندي د ځان د مهارولو ځواک. دا د رازونو ډک لوی ځواک د انسان په روان کې دی.

اراده په ټولو کې یو شان نه ده. په ځینو کې د زغملو قوه کمزورې وي. دوی د نورو د هڅوني سره زیار ایستونکي کیږي. پرهېزګاري او زغم باید په ځان کې وروزو. د ماشومتوب په دوران کې سپورټ او په ځانګړي ډول د ځواک د زیاتولو ورزشونه په دې چاره کې اغیزناک دي.

دا ډول رواني پرهیز او زهد دی، چې په یو انقلابي انسان کې د مقابلې لپاره وړتیا پیدا کوي او لویوالي ته یې رسوي.

پر چا چې حیواني غرایز مغلوب وي او نه شي کولای خپل ځان وساتي؛ ټولنیز حیثیت هم نشي ترلاسه کولای او نشي کولای چې پر نورو باندي اغېزه وشیندي. **د یو انقلابي انسان لپاره، د معنوي او واقعي حیثیت او شخصیت ترلاسه کول، اخلاق محوره کړنلاره ده.**

## ۵- بله ځانګړتیا شعوري انضباط دی.

په انقلابي غورځنګ کې وګړي ته دا وضح کیږي، چې د هغه ماموریت څه دئ؟ کله دا توضیح د رازدارۍ له کبله ډیره لنډه وي او یا هیڅ نه وي. هغه چا چې د غورځنګ کړنلاره او تګلاره منلې وي؛ په دې ګومارل کیږي، چې د لوړو ارګانونو او مسئولینو لارښوونې ترسره کړي، حتی که ورسره موافق هم نه وي. البته هغه حق لري، چې خپل نظر ووایي، خو که چیرې وګړی یا ارګان په خپله لارښونه کې مخفي وي؛ باید د نظر ورکولو پرته ترسره شي. که سمه وي، چې ترسره کونکی وګړی باید له ځانه انتقاد وکړي. که په عمل کې یې خپل ناسم والی وښودی؛ په هغه وخت کې باید خپل هغه څه چې ویلي یې ول؛ تکرار کړي. کله دا لارښوونې عادي وي، کله ستونزمنې او مرګوني وي. ټول د تاریخ په لویو ننداړو کې نه شهیدان کیږي. کله په یو کوچني ماموریت کې له خپلې ټولې ځانې پانګې سره ګډون کوي. دا د انقلابي انسان ټاکل شوې ځانګړنه ده.که چیرې انضباط نه وي؛ هغه یو ساده او معیوب انقلابي دی.

انقلابي انسان باید په دې وتوانیږي، په هر هغه ځای او وخت کې چې ورته اړتیا وي؛ هم قومندان او هم امر وړونکی واوسي. انقلابي غورځنګ د مومنو او امر وړونکو سرتېرو د یو اغیزناک سازمان او جنګي ټولګه ده. د ملګرتیا د بحث لپاره یو ښه کلب دی. په عین

حال کې یو انقلابي انسان دا هم زده کوي، چې نور وګړي څنګه رهبري او مدیریت کړي.

## ٦- ددې سره کیدای شي

دا لړلیک دوه و درې چنده کړو، خو زموږ موخه د بنسټیزو ځانګړنو یادونه ده. خپل بحث د رښتیا لیدني (واقع بینی) په یادولو سره پای ته رسوو. دا د پرېکړې کولو د چلند یو تګلاره ده، نه ځانګړتیا، خو د اخلاقي ځانګړتیا سره هم په تناسب کې دي. نو دا هم بده نه ده، چې په دې کوډکس کې یې راولو. وګړي د چلند له مخې په درې ډوله دي:

١) بدبین: هر څه تور ویني. دوښمن پیاوړی، ماته حتمي او د سنګر ملګري بې اعتماده ګڼي او رواني ویره او غم خپروي. دا ډیر ناوړه چلند دی.

٢) خوشبین: هر څه ګلزار، دوښمن کمزوری، بریالیتوب خپل د لاس کار، د سنګر ملګري بې عیبه او د زړه د آرامولو او مسایلو د آسانه کولو روحیه خپروي. دا چلند هم ناسم دی.

٣) رښتیا لیدونکی (واقع بین): وضیعت د عیني تحلیل د فکټورونو پر بنسټ مخ ته بړدي او پوهېږي چې زموږ د دوښمن پیاوړي او کمزوري ټکي کوم دي، دوښمن او ځان ته زیات ارزښت نه ورکوي، په دې پوهیږي چې د ماتي او ګټلو چانس څومره دی او په عین حال کې د ځان ساتني او رواني استحکام سره عمل کوي. مقاومت کوي یا د سنګر ملګرو ته په روحیې ورکولو سره، د مقابلې پر لور ځي او د روحیې ثبات، د وظیفوي پوهي درلودلو سره یو ځای توصیه کوي. دا ډېر سم او کره چلند دی.

خبره دلته ده، چي انسان غواړي وپوهيږي، ددې د مبارزې او هڅو په پای کي څه کيږي؟ دا چي په صحنه کي پاراميتري او اغيزناك عوامل ډېر دي؛ پايله اخيستنه آسانه كار نه دی، غيب ويل ناممكنه دي او په واقعيت كې څوك نه پوهيږي چې څه به وشي.

يو انقلابي دا ډول قضاوت كوي:

**(كولای شم، چي بريالی شم، يا شايد ماته وخورم. طبيعي ده چي بريالیتوب مو خوشحاله او ماته مو غمجنوي، خو موږ د بریالیتوب يا ناكامۍ لپاره په جګړه كې ګډون نه دی كړی. موږ په دې خاطر ګډون كړی، چي دا خپله انساني دنده ګڼو. په ټول توان سره کوښښ كوو، چي ويې ګټو، كه چيري ګټونكي هم نه شو؛ خپله انساني او عالي دنده به مو سرته رسولې وي او ځانونه به مو د انقلاب په غورځنګ او د انقلاب په تاريخ كې د درناوي وړ ګرځولي وي.)**

كولای شو د نورو ځانګړتياوو، د بيلګي په ډول، د صداقت، وفادارۍ، هوډمنتوب، د خبرو او كړني (ژبي او عمل) انطباق، په جګړه كې د زړورتيا، په سختو حالاتو كي د ساړو ماغزو او زغم ساتلو او نورو په باره كې خبرې وكړو.

# ۵.

# ایثار (تیریدنه)

ایثار، یعنې له سر، مال، خپلوانو، آرامتیا او مقام څخه د عدالت، حقیقت او د ټولنې د ګټو لپاره تېریدل. دا د انساني نوعې د لوړو قربانیو له جملې څخه دي، یعنې کله چې یو انسان، د انساني قبیلې په تکاملي تاریخ کې، حتی د ژوند نه کولو په بیه، عالي انساني ارزښتونه پالي؛ دا د انسانیت د ځلېدو تر ټولو لوړ حد دی، دا یو ځانګړی انسان دی.

ژوند یو ځل انسان ته ورکول شوی. د انسان ژوند پخپله هم لنډ دی. ژوند حتی په سخت ترینه حالاتو کې هم ښکلی دی. د انسان په وجود کې د ژوند لپاره د جذب ځواک شته. نو له خپلې هستۍ څخه، تیریدنه یو ډېره لویه قرباني ده، چې انسان یې د خپلو ارمانونو لپاره ورکوي. دا سخت او د هر چا د وس کار نه دی، ځکه خو د نورو انسانانو پر وړاندې، دده علاقه، مینه او درناوی زیاتوي او د هغو په نظر کې یې لویوي.

په انقلابي جګړو کې باید له هماغه اوله، د ځان څخه تیریدلو ته محاسبه وشي. څوک چې په انقلابي غورځنګونو کې ګډون کوي؛ کله په غر او سمي او کله په ښاري محکمه یا صحرایي محکمې کې، د یو بد انسان او هغه چا چې ټولنیز نظم یې ګډوډ کړی وي؛ په توګه محکوم کېږي او بیا وژل کیږي. دار، ویشتل، سیزل، سر پریکول، په برېښنا سره وژل، د تدریجي ځورونې د لارې وژل...دا د اعدام او وژنې عادي شکلونه دي. ځینو ظالمانو بیا ډېر هیبتناکه مرګونه رامنځته کړي وي. کالیګولا، د روم نیمه لیونی امپراطور ویلې: (کاش ټول روم یوه غاړه کېدلی، تر څو ما د یو تبر په واسطه پرې کړی وای!). نرون مسیحیان په تیلو لړل او شمعې یې ترې جوړ کړي وو.

د ټولني تکاملي بهير تېريدنه ايثار ته اړتيا لري. سمه ده، چي د توليدي وسايلو دوامداره ښه والی او د معرفت او پېژندني د سطحې لوړوالی هم په دې برخه کي ګټور دي، خو دا تګلوری په خپله نشي کولای، د ټولنيز نظام په لنډو زماني واټنونو کي ژور او بنسټيز بدلونونه را منځته کړي. نو، د ناآګاهانه بدلون تر څنګ، آګاهانه بدلون راوستل هم اړين دي. آګاهانه بدلون د انقلابيانو په لاس ترسره کيږي او خپل د وجود د تکامل شکل ښکاره کوي.

مارکس ښايسته او ژوره جمله لري: (د تکامل خدای، خپل درمل د شهيدانو د سر په کاسه کي څښي). د ده شهادت او تيريدنه د ظالمانو لپاره لړزونکی او شرمونکی عمل دی. دده شهادت ستر معنوي ځواک رامنځته کوي. د ويرې خنډونه ماتوي او نورو ته درس ورکوي. دا ځانګړی انسان دی. که چيرې يې شکلونه د حيواناتو په نړۍ کې ليدل کيږي؛ غريزوي او لاشعوري دي، خو د انسان په نزد عالي حماسي درجې ته رسيدلی دی.

ماني، د مړيني پر مهال شاپور ته وويل: (زما د وجود د له منځه تلو سره، د نړۍ آبادي ده).

امريکايي کارګر جوهيل[۱۳] دار ته نږدې ويل: (زما د مرګ چوپتيا، د هغه اعلان څخه ډيره ځوږ جوړونکې ده، چي اوس يې دوی چوپوي).

هغه لمبو چي عين القضات، جيوردانو او يان هوس يې ايرې کړل؛ په پای کې يې د فيوډاليزم او اشرافيت مانۍ وسيزله.

د منصور حلاج نوم د يو مقدس الهام په ټکي واوښتی.

[۱۳] Joe Hill

هغه مهال د شهيد حسين نوم په ميليونونو انسانان، د يزيديانو پر وړاندې راپورته کړل او لا يې را پورته کوي.

ايثار او تيريدنه – د انقلابي انسان د ظاهري بدن له منځه وړل ـ د دوښمن لپاره هجوم، تېرى او وراني ده.

خسرو روزبه وکولای شوای، د خپلي قرباني سره، زموږ په ټولنه کې د پاشلتيا او تسليمۍ پر وړاندې خنډ شي. د ايران په اسلامي انقلاب کې، د امپرياليستي دوښمن پروړاندې، د مسلمانانو قرباني، مبارزه او شهادت پياوړې او نابودونکې وسله وه او ده.

هو، تکامل د قربانۍ مرتبې ته اړتيا لري. قرباني د تکامل مرتبه ده!

قرباني، حتا د قربانۍ ورکولو نا شعوري شکل هم د وخت په ځنګل کې نه ورکيږي. اغيزه پريږدي او هغه ورځ رارسيږي، چې د علمي واقعيتونو او ټولنيز عدالت په غوښتنه، د هر خلقي شهيد او شکنجه شوي نوملړ ترتيب کړل شي. هغوی د بشر په حافظه کې تلپاتي او ددې ابديت جوړونکي دي.

دوی د انسانيت جوړونکي انسانان دي. هغه انسانان چې د نورو ښه والی، له خپل ښه والي څخه ښه ګڼي. خپل ځان يې د سپېڅلي انساني تکامل لپاره د سون توکي ګرځولي او په دې نغري کې سوزي، ترڅو د تمدن جسم ته تودوخه ورکړي. مارکس وايي:

«که څه هم انسان په خپل جسم کې فاني دی؛ خو په تاريخي عمل کې تلپاته وي.»

د تاريخ حافظه ډېره پراخه ده. د ظلم پروړاندې، ظلم او جګړه نه هيريدونکې ده. شهيدان ژوندي دي، ولاړي وني مړې کيږي، قربانيان د تاريخ د کاروان سره يو ځای، پر دوښمن باندې خپل دايمي لعنتونه وايي. وينې او اوښکې نه وچيږي.

آه! زموږ پر سر د انقلابي انسانانو څه سور سیوری غوړېدلی، پر موږ د هغو انسانانو ګلونه غوړېدلي، چي کوپړۍ یې سورۍ او سترګې یې ړندې شوي، له زړونو یې وینې څڅېدلي، ګونډې یې ماتي شوي او د وژل کېدو ځای ته په پوره مېړاني او بې پروایۍ سره تللي دي. د طبقاتي تاریخ د پیل څخه چي لس زره کلونه به یې کیږي؛ کیسه دا رنګه ده: د یوه لوري قربانۍ ته تیار انسان او د بل لوري څخه جلادان. دا دوه ګوني والی د بشر د انتقال دوران دی. هغه بشر چي تر اوسه یې خپل ځان نه دی پیژندلی. هغه بشر چې نیم ملائیکه او نیم ځناور حیوان دی. هغه بشر چي د شکلونو او د انسان ډولو ترمنځ ورکه کړۍ ده. رښتینی انسان، راتلونکی انسان دی، چي د تمدن د پښګرۍ په بټۍ کې پښې شي.

**هغه بشر چې تراوسه بشر نه دی؛ هغه بشر چي تراوسه خوراک، څښاک، خوب، دوښمنۍ او شهواني غرایز باندي غالب دي. هغه بشر چي تراوسه ځاني بشر دی؛ نه ټولنیز. تراوسه «زه» دی، نه «موږ». هغه «زه» چي «زموږ» ځېښې، ترڅو په خپل شدادي جنت کې ژوند وکړي.**

هغه تکفیري قرباني او هغه د انسانیت د تعالی قرباني ده او انسانیت، هغه په خپل احسان کې راولي. هر مرګ هم قرباني نه ده.

# ٦.

# انقلابي انسان او کورنۍ

کورنۍ په ځانګړي ډول (مور، پلار، بچیان، مېرمن) د ټول بشري نسل نمایندګان دي. کورنۍ د انسان چارچاپېره، د هغه سره د ویني، وراثت او د ژوند د تېرولو په چارو کې تړاو لري.

د مور، پلار، مېرمني او بچیانو سره مینه، د انسان په طبیعت کې ده. په ځانګړي ډول له بچیانو سره، چي له زیږېدو څخه نیولې، تر ماشومتوب او ځوانۍ پوري مور زیار ورسره باسو. د مور، پلار او مېرمني سره، مهرباني کول تر ټولو سپېڅلي انساني عواطف دي.

له کورنۍ څخه پاتې کېدل او د تل لپاره لریوالی، لوی درد دی.

**د زندان د میلو له شا څخه، د مېرمني او غمځپلي بچیانو، زاړه پلار او رنځوري مور، سره لیدل داسي لوی عذاب دی، چي د نورو دردونو او کړاوونو سره یې تشبیه کولای نه شو. د هغو سره تر نامالوم وخت پوري مخه ښه کول؛ څومره یو دروند محرومیت دی!**

دا کار وروسته د خپل ځان له قربانۍ څخه، داسې قرباني ده، چي تاریخونو او هنرونو د هغه څخه زیات حکایات (کیسې) جوړي کړي دي.

په همدې پار ځیني انقلابیان د واده کولو څخه ډډه کوي، خو موږ هغو ته د یوازیتوب توصیه نه کوو، ځکه هغوی چي د ټولنیز عدالت او د ټولني په لاره کې جګړه کوي؛ نه باید د میرمني سره د میني د خوند او اولادونو سره د خوشالۍ څخه ځان محروم کړي! یا

له خپلي خوږې مور او قدرمن پلار څخه، بېلوالی غوره کړي! انقلابي انسان، د خپلې کورنۍ سره د زړه له کومي تړلی وي. که څه هم دا خبره سمه ده، انقلابي انسان هغه څوک دی، چي مينه يې د مظلومو انسانانو سره ده او هغه مينه د ځان د ايثارولو تر بريده پالي، نو څنګه به شونې وي، چي داسي يو څوک دي، له خپلو خپلوانو سره لېوالتيا او مينه ونه لري؟ انسان، د نورو انسانانو سره مينه له خپلي کورنۍ څخه زده کوي!

يو انقلابي انسان بايد د خپلو ښو کړو - وړو له مخې په کورنۍ کې د درناوي وړ وګرځي. کېدلای شي، د خپلوانو سره فکراً مخالف وي، خو بايد دا اختلاف په مودبانه شکل سره وښيي او که حل نه شي؛ د خپلوۍ د اړيکي د شلېدلو لامل بايد ونه ګرځي. **د ملاحظې او درناوي حد په هر حالت کې اړين دی.**

دا چي ميرمن او خاوند له يو بل سره څه ډول ژوند وکړي؛ په دې اړه يو اړخيزه نُسخه نه شو ورکولای. ځکه دا مسئله د ځانګړو زماني او مکاني شرايطو سره تړلې ده، خو ددې اړيکي اساس د [هوکړي] شتون دی. بنسټ يې دادی، چي ښځه او خاوند د يو بل سره د زړه مينه ولري، يو بل درک کړي او محترم يې وګڼي او له يو بل څخه هيڅ ډول ملاتړ ونه سپموي، يو بل ته وفادار او ژمن وي، خو دا چي يوه ورځ نارينه لوښي پريمينځي او بله ورځ ښځه؛ دا بېله مسئله ده، چي بايد په خپل منځ کې د تفاهم او هوکړي له مخې ترتيب او حل شي.

**هغه اصل چي مورِ ور باندي ټينګار کوو؛ د يو بل خدمت، درناوی او ملاتړ کول دي.**

مور ټول عمر د خپل اولاد رنځ ګاللی وي. داسې ښځې هم شته، چي له خپلي مور څخه زيات، د خاوند غمشريکي وي او د هغه لپاره ټول عمر قربانوي. زمونږ ټولنه اوس هم په دودونو او رواجونو کې بنده ده. د بشريت په ټولو ټولنو کې د کور کار، ګنډل، جارو کول، وينځل، پاکول، پخلی او د اولادونو سمبالول، چي د بشري ژوندانه د سختو او

حیاتي کارونو څخه دي؛ زیاته برخه یا تقریباً ۹۰٪ د ښځو پر سر تپل شوې ده. دا یو غیر عادي او ناسم وضعیت دی، چې باید بدل شي، خو ددې وضعیت د بدلون لپاره د وړاندي لا د زمینې او تمدني مقدماتو برابرول اړین دي؛ نشو کولای، چې یوازي یې د نصیحت او امر په واسطه لغوه کړو. د ایران په لیري پرتو سیمو کې دا وضعیت له ښار څخه هم ناوړه دی.

بې له شکه، چې نصیحتونه او لارښووني، مېرمني او خاوند ته د یو بل د ملاتړ او د برابرو حقوقو په برخه کي ګټور دي، خو له دې پند او نصیحت څخه ډېره تمه نه شو کولای.

هغه څه چې کولای شو، له یو انقلابي انسان څخه وغواړو؛ د ټولنیز وضعیت د بدلون په لاره کې مبارزه ده، تر څو کورني شرایط هم ورسره بدل شي او هم دا تمه ترې لرو، چې یو انقلابي انسان د کورنۍ تر ټولو زیات ملاتړ کونکی واوسي.

# ۷.

# د یو انقلابي انسان، دوست او دوښمن

موږ په ژوند کې ځاني ملګري او دوښمنان لرو. داسې ملګري لرو چې د دلایلو له مخې، زموږ د طبعي دي او ورسره خوشاله یو. داسي دوښمنان هم لرو، چي د خپلو دلایلو له مخي، مو طبعیت ورسره نه لګېږي او لرې ورڅخه تښتو. دا طبیعي ده.

دا ځاني ملګري یا دوښمنان کېدای شي، زموږ سره په ټولنیزو مسایلو کې همنظره وي - یا نه وي.

زموږ بحث دلته پر هغو ملګرو او دوښمنانو دی، چي زموږ سره د مبارزې په یوه صف کې ولاړ دي. ښایي، له دوی سره په چلند کې موږ د ذهن پالني[۱٤] سره مخ شو، یعنې په خپل قضاوت کې خپل شخصي احساسات پر کار واچوو. د ملګري له تېروتنو څخه تېر شو، د دوښمن حق ته پام ونه کړو. د ملګري حق زیات کړو، د دوښمن تېروتنه لویه کړو. ملګری، د همکارۍ لپاره وټاکو او هغه ته د حساس مقام لپاره رایه ورکړو، په داسې حال کې چي وړ یې نه وي. دوښمن د همکارۍ لپاره ونه ټاکو او د حساس مقام لپاره ورته رایه ورنه کړو، په داسي حال کې چې وړ یې وي او نور...

داسې ذهنیتپاله کړني، د یو ریښتیني انقلابي انسان د ځانګړتیاوو څخه لیري دي، ځکه:

۱- د ملګري تېروتني ته باید هماغسي وګورو، لکه څنګه چي د دوښمن تېروتني ته ګورو.

---

[۱٤] Subjectivism

۲ـ د دوښمن حق ته باید داسي پاملرنه وشي، لکه څنگه چي د ملگري حق ته پاملرنه کوو.

ځیني خلګ په دې ذهنیتپالنه کي ډېر لیري ځي. ملگري له یو بل سره د دوښمن پر وړاندي ډلي جوړوي او د سازماني اصولو خلاف کړني ترسره کوي.

په انقلابي مبارزه کې اصولي اختلاف او مبارزه جایزه ده، خو په دې ځای کې دوست او دوښمن ونډه نه لري، ځکه شاید ډېر اختلافات مو د ملگري سره پیدا شي. مشهوره قول دئ: (د افلاطون سره مینه لرم، خو له حقیقت سره تر هغه هم زیاته.) دا خبره ارسطو ته منسوبه ده؛ ژوره او درنه خبره ده.

**په مبارزه کې حق یا ناحق، دوست او دوښمن مطرح نه دي، واقعیت مطرح دی.**

د انډیوال او ملگري توپیر بیا په دې کې دی، چي تاسي د انډیوال پر وړاندي شخصي احساسات لرئ، خو د ملگري پر وړاندي بیا ټولنیز او سازماني احساسات. تاسې اړ یاست، چي د ملگري درناوی وکړئ، خو د انډیوال سره ستاسو ترمنځ د شته اصولو له مخي چلند کوئ. انډیوال او ملگری په سازمان کې دننه پر تاسو باندي حق لري.

د انډیوال او ملگري تر منځ توپیر په دې کې دی، چې تاسي د انډیوال سره په شخصي مسایلو او بحثونو کي لېوالتیا لرئ، خو دا ډول لیوالتیا او تیاری د ملگري لپاره نه لرئ، ځکه تاسو هغه د گوندي ـ سیاسي – ټولنیزو مبارزو څخه هاخوا نه پیژنئ.

دا توپیرونه په شخصي ژوندانه کې دي، خو په ټولنیز ژوندانه کې توپیر نه شته. ټول انقلابي مبارزین یاست او د یو بل سره مو چلند مساوي دی.

د ایران د انقلابي غورځنګ تاریخ راښیي، چي یو مهال پکښې د همدې ملگرتیاپالني او دوښمن ځپني، ذهنیتپالني، څو لاریتوب او په ټولنیزو مسایلو کي د شخصي احساساتو

ورگډوني ستونزي خورا پکښې ډېري وې، چي له نېکمرغه اوسمهال د مختلفو عواملو له کبله راکم شوي دي.

**ټولنيز وروسته پاته والی، د مخفي کار شرايط، زندان، کډوالي او هر بې خوځښته چاپېريال دا خوړونکې ناروغي تشديدوي.**

کله چې خوځښت لوی، آزاد او علني وي؛ پياوړی بهير يې، د رکود د دورې څخه رامنځته شوې ناولتيا او ککړتيا له منځه وړي. شعوري کچه لوړه او ساده او تنګ نظره پرېکړي له منځه ځي.

يو بله اړينه مسئله داده، چي انقلابي انسان کولای شي شخصي ملګری ولري، خو بايد له چا سره يې دوښمني نه وي. يو انقلابي انسان، هغو بديو ته چي څوک يې ورسره کوي؛ تېرېږي. هغه اصلاً په دې فکر کې نه وي، چي بدل واخلي او غبرګون وښيي. که څوک وغواړي له هغه سره دوښمني وکړي؛ دا د هغه شخصي کار دی. يو انقلابي انسان، د خصوصي دوښمنۍ اړوند ترڅو چي کولای شي؛ غبرګون نه ښيي. انقلابي انسان خصوصي ملګري لري او هغو ته د مينې په مقابل کې مينه ورکوي. دا ملګرتيا هم ځانګړې ملګرتيا ده. ملګرتيا د ځانښودني او ورځنيو ګټو د حسابه وتلې وي. که دا حساب پکښې وي؛ بيا هغه ملګرتيا نه، معامله او سوداګري ده.

په تېرو وختونو کي، غورځنګ د داسي کسانو سره، چي يوه لنډه موده به د ځاني ګټو په خاطر سره يو ځای ول؛ ډېر مخ شوی دی. هغوی د تل لپاره ملګري نه ول او په اول ګام کې چي حساب يې نه سره جوړېدئ؛ يو له بله بيلېدل.

په ريښتينې ملګرتيا کي چې د ژوند له نعمتونو څخه بې غرضه وي؛ روحانيت، روحي مينه او بې تمي قرباني شرط ده، که نه هغه به څه ملګرتيا او انډيوالي وي؟

نو باید د آشنایۍ، انډیوالۍ، ملگرتیا، دوښمنۍ او د مهربانۍ او نه مهربانۍ (سمپاتي او انتي پاتي) ترمنځ توپیر وکړو او دا ویې د یو بل سره گډ نه کړو.

د بېلگي په ډول، ستاسي مهرباني یا نامهرباني، شاید د پردیو پام هم تاسي ته واړوي. دا یو عام رواني احساس دی، چي ستاسي او د مقابل لوري په جسمي او رواني انگېزو پوري اړه لري. دا پېچلي رواني احساس ته باید په پرېکړي او چلند کي ځای ورنه کړو ، ځکه په کُلي ډول ځاني او شخصي عاطفه ده.

## ۸.

# انقلابي انسان؛ په بحثونو او قضاوتونو کې

بحث او مناظره (پولمیک) د انډیوال، ملګري، مخالف یا یوه ټولنیز دوښمن سره، د شخړې د حل اړین شکل دی.

**د انقلاب د بهیر او له هغه څخه وروسته تجربو ښودلې ده، چې زموږ په سیاسي او ټولنیزو بحثونو کې خامیاني شته؛ ځکه خو بحثونه مو د جنجال، یو ډول سوک وهنې، د الفاظو په واسطه د یو بل د ناک اوټ کولو، زیاتي غږېدنې، طنز، تمسخر، ښکنځلو، سفسطو او نورو سبب ګرځي او کله – کله خو د نږدې انډیوالانو، ملګرو او خپلوانو اړیکي هم د مخالفت او دوښمنۍ تر بریده ترینګلي کوي.**

زموږ بحث د فکري - ذهني ورزش په ډول دی او قواعد یې باید د پایلي پر مالومولو باندي ولاړ وي. مثلاً، الف حق دی، یا با حق او یا الف او با دې پایلي ته رسېږي، چي د دوی اختلاف لفظي وو، یا الف او با دا مني چي د بحث لپاره تیار نه دي، یا دې پایلي ته ورسېږي، چي دا بحث په بل وخت کې تازه کړي.

**د نورو مفکورو لرونکو خلګو سره، د یو انقلابي انسان چلند باید په پوره ډول سره د ادب او درناوي په چوکاټ کي وي.**

انقلابي انسان، باید په بحث کي شخصي عوامل لکه: پېغور ورکول، په جګ او تونډ آواز خبري کول، مسخرې کول او نور هغه شیان، چي د بحث فضاء خرابوي؛ شامل نه

کړي. هر څوك، چي بل ډول افکار ولري؛ موږ يې منو. چرنيفشوسکي به ويل: «زما ماغزه هغه ډول فکر نه شي کولای، لکه د پوليسو د ادارې مشر چي يې غواړي.»

د يو جدي بحث شرايط دادي:

۱- دوه مخالف نظرونه، چي ترمنځ يې منطقي منازعه رامنځته کيږي؛ بايد په ښکاره ډول سره ډلنبدي شي، ترڅو له اوله مالومه شي چي بحث پر څه باندې دی او موضوع څه ده؟

۲- وروسته الف وګړی خپل استدلالونه، د خپل نظر په ګټه بيانوي.

۳- بيا با وګړی هغه استدلالونه (په خپله هماغه استدلالونو نه دا چي له ځانه په کې زياتونه او کمونه وکړي) مني يا يې نه مني. خپل اضافه استدلالونه د هغه پر استدلالونو ور زياتوي.

۴- دا بهير تر هغو چي ورته اړتيا وي؛ دوام مومي. دواړه لوري بايد دقيق او زغمونکي وي. د يو بل خبره ياداښتوي او يا يې په ښه ډول په حافظه کې ساتي. د يو بل خبره څه ډول، چي د مقابل لوري نيت دی؛ درک کوي، نه دا چي د ځان په ګټه يې کږه کړي، ترڅو په ښه ډول يې رد کړای شي. پر هر ټکي يې چي هوکړه وکړه؛ د بحث له جرګې يې باسي ترڅو د بحث اوږې لړې سپکې شي.

۵- هر کله چي د بحث دواړو لوريو د بحث پای ته رسول اړينه وګڼل؛ هغه دي په لاندينو احتمالي پايلو پای ته ورسوي:

۱- په ټوله مانا د يو بل سره هوکړي ته رسيدلي يو او د بحث نور دوام اړين نه دی.

۲- د ځينو ټاکلو موضوعاتو موافق او د ځينو ټاکلو موضوعاتو مخالف يو. هغه موضوعات چي ورسره مخالف يو؛ په آينده کې پرې بحث کوو.

۳- یو له بل سره کاملاً مخالف یو، بحث ته دوام نه ورکوو، یا د غوښتني له مخي دوام ورکوو.

۴- پر بحث باندي بیا کتنه، څېړنه او ژور لیدنه بل وخت ګټوره ګڼو.

۵-دواړه لوري د وخت په تیرېدو سره، د یو لړ مسایلو روښانه کولو ته اړتیا لري.

٦- باید یو لړ اسنادو، فاکټونو او قضاوتونو ته ورشو، ترڅو بحث مو لا دقیق شي.

**هرکله چې د بحث کړنلاره علمي - انساني وي، انسانان نږدې کوي. که چیري په سفسطي او دوښمنانه ډول وي؛ د شرونو او رنځونو سرچینه ده او باید ډډه ترې وشي. دا ډول بحث او جنجالونه زیانمنونکي دي.**

اړینه نه ده، چي د بحث پر مهال موږ تل ګټونکي شو. د بحث کولو موخه، د حقیقت کشفول دي؛ نه د بحث ګټل. دواړه لوري حق نه لري، چي د کوم لوري د خبرو کولو د کمزورۍ څخه ناوړه ګټه واخلي.

خو د انقلابي انسان لپاره یو بله ستونزمنه مسئله، د وګړو او پېښو په اړه پرېکړه کول دي. دا ډېر سخت کار دی او له بده مرغه زموږ په هیواد کې بې مسئولیته قضاوت دود دی. انسان حیران شي، چي ځیني خلګ څه ډول هره بې بنسټه آوازه مني او په اړه یې پرېکړه کوي.

د سمي پرېکړي کولو لپاره دوه شیان اړین دي:

۱- د هغه شخص یا پېښي پېژندنه، چي په اړه یې پرېکړه کوي.

۲-د پرېکړي کولو لپاره د فکري محور درلودل.

که چیرې تاسو د هغه شخص یا پېښي په اړه، چې قضاوت ورباندې کوی؛ نه پېژنئ – نه یاست خبر؛ او له فاکټونو او هغه پوري تړلو اسنادو او اطلاعاتو بې خبره یاست، نو تاسي د قضاوت حق له لاسه ورکوئ.

حتا که تاسو هغه وپیژنئ هم او فکري محور ونه لرئ؛ هغو اطلاعاتو ته د څه له مخې ارزښت ورکوئ؟ ستاسو د پرېکړي کولو پیمانه او تله څه ده؟

د فکري محور څخه محروم خلګ په عامیانه اصطلاح (اخوا - دېخوا) فکر کوي. کله یو ډول او کله بل ډول، یا بیا هم د عامو خلګو په اصطلاح (د باد ډله). هر لوری چي باد پېښي وړي؛ پر هماغه لور دی هم ورسره کږېږي.

**انقلابي نړۍ لید، انقلابي انسان ته د پرېکړي کولو لپاره پیاوړی او منطقي محور (نه داسې محور چي جامد او انعطاف نه منونکی وي) ورکوي. ده ته یې ور پېژني، چي بد، منفي، محافظه کاره او مرتجع څوک دی او سازشکاره، منځګړی (سانټریسټ) او د سیاسي څیرې نه لرونکی څوک دی او مثبت، انقلابي او د مبارزې د لار سرتېری څوک دی.**

پر دې اساس، د لاندي ځانګړتیاوو د حسابه باید خپل دریځ ونیسو:

۱- ارتجاعي- فاشست (ښې اړخی)

۲- عادي مرتجع- هغه څوک چې غواړي د ځبیښاکګرو امتیازات وساتي.

۳- محافظه کار، هغه څوک چي، د لږ سطحي نرمښت سره د موجوده وضعیت ساتونکی وي.

۴- منځلاری لیبرال (بورژوا یا آزادي غوښتونکی فیوډال) چي هم ځبېښاک غواړي او هم تر یو حده آزادي. (د ځان په ګټه)

۵- انقلابي ډموکراټ (د امپریالیزم ضد خلقي عناصر) چې د امپریالیزم ضد او خلقي فکر لري.

٦- خواریکښ پرولتاریایي انقلابي، چي د ځېبښاك څخه د خلاصي ټولني غوښتونکی دی.

٧- افراطي کیڼ اړخی، آنارشیسټ او تروریست، چي په ظاهره چپي دی، خو عملاً بیا د ښي اړخو چوپړ کوي.

البته دا پرېکړه هغه مهال کولای شو، چي یوازي د یو وګړي سیاسي - ټولنیزې څیرې په اړه خبري کوو، خو که له دوو لوریو ورته وګورو:

١- د یو انسان په توګه.

٢- د یو ټولنیز- سیاسي وګړي په توګه.

داسې کسان لږ نه دي، چي د ټولنیز دریځ له مخي موږ ته د منلو وړ نه دي، خو بیا هم نیک انسانان وي. مودب، ریښتیني، ښه خبرې کونکي، فداکار او نور...

داسې کسان هم کم نه دي چې د ټولنیز دریځ له مخي موږ ته د منلو وړ دي، خو بیا هم بد انسانان وي: بې ادبه، توندخویه، ککړ، ځان غوښتونکي او نور...

خو ډېر مهال، دا استثناوي دي او موږ که ټولنیزه دریځ نیونه او انساني مشخصات، ښه سره وګورو؛ د هغوی ترمنځ یو انطباق شته، ډیر کله داسي پېښېږي، چي موږ وایو: د یو انسان په توګه ښه او مینه ناك سړی دی/ ښځه ده، خو د ټولنیز نظره منفي دی. غالباً دا دوه منفي اړخونه تر ډېره نه پاتې کیږي او یو بل په مهمو موکو کې تر اغیزې لاندي راولي.

# ۹.

# انقلابي انسان ،ځان روزنه او ځان تنقیدونه

یو انقلابي انسان باید د زده کړې او د شناخت د سطحې په لوړولو او هم د ځان پر دایمي سمون باندې کار وکړي. یعنې هم زده کونکی او هم د ځان روزونکی وي.

نن ورځ طبیعي او ټولنیزو علومو، میتودونو، کړنو، فنونو (تکنیکونو) او هنرونو خورا زیاته پراختیا موندلې ده.

انسان پېژندنه، د سرچینې پرته ګټه نه لري. څوک چې په لیک او لوست نه پوهیږي؛ که غواړي د خپلو دوو سترګو سره دوې سترګې نورې هم ونښلوي؛ بیا هم لیک او لوست نه شي کولای.

هغه څوک چې د علومو، عملي تمرینونو او هنري شکلونو څخه بې خبره وي؛ څرنګه کولای شي په ویناوو او لیکنو پوه شي؟ فکر وکړي او خپل فکر نورو ته بیان کړي؟ او د ځان او نورو څخه ساتنه وکړي؟

ښونکو ته هر مهال لاسرسی نه وي، نو یو منظم او منضبط انسان باید دې ته پام وکړي، چې څرنګه د لوستلو، اورېدلو، پوښتلو او فکر کولو له لارې خپلې پېچلتیاوې وسپړي، ستونزې حل کړي او خپل د پېژندنې کچه لوړه کړي.

کله چې انقلابي انسان، یا د ټولنې خیرغوښتونکی، داسې خیرغوښتونکی وي، چې ټولنه ونه پیژني؛ له قوانینو یې نا خبره وي، د خپل وطن له تاریخ، جغرافیې او ادبیاتو څخه

پوهاوی ونه لري؛ نو د ټولني د خير او ګټي لپاره به دده تګلاره څه وي؟ **موږ بايد لږ تر لږه دا پوهه خامخا پيدا کړو. دا پوهه او پېژندنه (د ټولني پېژندنه) د ژوند په جګړه کې وسله ده او هر څومره چې د شناخت او پېژندني کچه مو لوړيږي؛ هماغومره ښه ده.**

البته خواريکښ خلګ، چي ددې انقلابونو اصلي سرتېري دي؛ د مادي او زماني اړخه، ډيره ستونزمنه ده، چي زده کړي ته ځان جوړ کړي. نن ورځ، راډيو، ټلويزيون او نورو غږيزو او انځوريزو رسنيو د انفرادي زده کړي چارې ډيري آسانه کړي دي. تر څو پوري چي محروم خلګ ونه پوهيږي، چي نړۍ او هيواد په څه حالت کې دي او په دې ونه پوهيږي، چي د دوی انساني او وطني دنده څه ده؟ بې رحمه ځبېښاکګران به د خلګو له جهالت څخه همداسي ګټه اخلي.

**جهالت د ظلم بنسټ دی. که جهالت نه وي؛ ظلم دوام نه شي پيدا کولای.**

د خوشالۍ ورځ به هغه وي، چي د نړۍ اکثريت خلګ په خپلو څلورو اوليه حقوقو باندې پوه شي:

۱- د يوه انسان استثمار (ځبېښاک) د بل انسان له خوا، د ګټي راټولول او د ګټي بدلول په پانګي او د پانګي بدلول په ځواک او د ځواک څخه د خواريکښو د مهار لپاره ګټه اخيستنه هم په خپل هيواد او هم په نورو هيوادونو کې، يو جنايت دی او بايد پای ته ورسيږي.

۲- ځبېښاک، د خانی-عشيرتی (پاترياركال)، ملکي- رعيتي (فيوډاليزم) او پانګوالي - کارګري (کاپيټاليزم) په ګټه ښکاره کيږي. نن ورځ په نړۍ کې تر ډېره پانګوالي حاکمه ده. پانګوال په پيل کې يو له بل سره په سيالۍ کې لوېدلي ول او په خپله محدوده ګټه راضي وه، خو وروسته په خپلو کې سره جوړ شول او له يو ملت يا څو ملتونو څخه يې

انحصاري موسسات جوړ کړل، ترڅو زیاته انحصاري ګټه لاسته راوړي، خپل توکي په ګرانه وپلوري او د نورو توکي بیا په ارزانه بیه واخلي او د آسیا، افریقا، لاتیني امریکا او مرکزي امریکا کاني او کرنیز مواد؛ د امریکا، کاناډا، لویدیځي اروپا، جاپان او سویلي افریقا پانګوال په ساده ډول په واک کې اخلي. یوازي په ۱۹۸۱م کال کې د دریمې نړۍ له هیوادونو څخه د امریکا ګټه تر ۸۰ میلونه ډالرو زیاته او د دوی د لومړنۍ پانګه اچوني درې برابره و.

۳- د ځبېښناک نظام د خلګو د توري ورځي لامل دی. دا درواغ دي، چي د اکثریت خلګو برخه خدایي ده. یعنې د خواریکښو انسانانو په قسمت کي بې وزلي، جهالت ناروغي او وېره راغلې ده او د یو کوچني اقلیت برخلیک یې ممتاز ټاکلی دی، چي د آسانتیاوو او ښه ژوندانه خاوندان او د ځواک او پانګي غله دي. دا ډول قضاوت روحانیونو (وعاظ السلاطین) د خلګو په منځ کې رواج کړی وو، ترڅو خلګ د خان، ملك او پانګوال په اسارت کې وساتي او په خپله له دې غلو څخه مُزد واخلي.

۴- ، د ځبېښناکګرانو پر وړاندي، چي په راس کې یې د امریکې میلیارډران دي؛ د خپلواکۍ او ټولنیز عدالت لپاره د خواریکښو او بې وزله انسانانو متشکله مبارزه د مبارزې په لاسي او فکري شکلونو سره بریالی کېدلای شي. دا مبارزه شعور او قربانۍ ته اړتیا لري. دا مبارزه به له ځان سره سوله، خپلواکي، سوکالي او د خواریکښو آزادي منځته راوړي او په نهایت کي به بشریت له تورو ورځو خلاص کړي.

**د ځان له نقد څخه زموږ موخه، د ځان خوښونکو، ځانغوښتونکو او نارسیستانو پر خلاف، ځان ته په انتقادي نظر کتل دي.**

د ځان ساتني واکمنه غریزه موږ هغه لور ته راکاږي، چي له خپل هر څه څخه ساتنه وکړو، حتا له خپلو تېروتنو څخه.

**باید ددې داخلي شیطان سره مبارزه وکړو. د ځان سره جګړه، د هغې جګړې یوه برخه ده، چې انقلابي انسان یې کوي. ټول ژوند جګړه او هڅه ده، حتا له خپل ځان سره.**

زموږ د هیواد د دودیزي روزني یوه نیمګړتیا داده، چي ماشوم ډېر نازوي او په اصطلاح بې خوځښته او د بل مرستې ته اړ رالویېږي. قهر او تاوتریخوالی هم ماشوم عقده یي او بې مینې کوي. ددې دوو ترمنځ یوه بله لار: د ماشوم د برخلیك لپاره، د مسئولیت منلو د احساس سره یو ځای، آګاهانه او د علمي اساس لرونکې روزنه ده، خو موږ تراوسه د روزني په دې لور کې نه وو او نه یو. نو موږ باید خپلي نیمګړتیاوي پیدا او په قصدي ډول یې د پوره کولو لپاره هڅه وکړو. د رومن رولان په وینا:

اگر بر خویش خواهي گشت پیروز

به ضد خود نبردی کن شب و روز

پس آنگه میرسد آخر فرا چنگ

مرآن که صلحی باشد زاده جنگ

## ۱۰.

# انقلابي انسان؛ په عادي ژوندانه کې

یو انقلابي انسان په کار، کسب، سمه او غر، مسافرت، پوهنیز چاپیریال (د ښوونکي یا زده کوونکي په توګه)، د همکارانو په ناستي، د خپلو ګاونډیانو په ناستي، د کورنۍ د غړو په ناستي، مېلمستیا او نورو ځایونو کي ګډون کوي. په دې ټولو ساحو کې د هغه موخه په خپلي وړتیا او ریښتینولۍ سره د نورو د اعتماد ترلاسه کول دي، ځکه هغه یوازي په همدې ډول کولای شي چې پر نورو اغیزه پرېباسي.

د غوړمالۍ د کړو - وړو، لاپو شاپو، بې بنسټه ژمنو، مکر او فریب او د ځان لوړ ښودلو په واسطه د وقار او حیثیت ترلاسه کول نا ممکنه دي.

د معنوي احترام او اعتماد وړ حیثیت هغه مهال ترلاسه کېږي چې خلګ په دې پوه شي:

الف: تاسي یو شریف، ریښتینی، صریح، مهربان او ادبي انسان یاست.

ب: ستاسي کړني او او خبرې له یو بل سره لګېږي. د مسولیت احساس لرئ.

ج: تاسو په خپله ټاکلې دنده کې لایق یاست او کوم کار چې درته وسپارل شي؛ ترسره کوئ یې او د هغه کړني په ترسره کولو کې، ځاني محاسبه نه کوئ.

البته ځیني وګړي دي، چې د شوق یا د کار د سم ترسره کولو او یا د خاکسارۍ او بې کبرۍ له مخې شخصي جاذبه لري او د خلګو مینه خپلوي. دوی تل بد نه وي، خو خبره د ژور اعتماد د خپلولو ده، چې دا کار آسانه نه دی.

**هغه انقلابي انسان، چي په خپل چاپیریال کې د کرکي وړ گرځېدلی وي؛ په هیڅ هم نه ارزي!**

البته داسي هم ممکنه ده، چي چاپیریال د وړ شخص پر ځای ناوړه شخص وټاکي. له بده مرغه، داسي چاره کله نا کله رامنځته کېږي؛ خو نشي کولای چي دوام پیدا کړي. یو انقلابي انسان باید په داسې حالت کې د زغم څخه گټه واخلي.

**خپل چلند ارزيابي کړي، خپله تېروتنه ومني او تر کومه ځايه چي کولای شي، د چاپیریال سره په سم قضاوت کې مرسته وکړي. ځان ونه ځوروي او په غوصه نه شي، ځکه چي غوصه او ځان ځورونه بد سلاکاران دي.**

په هر صورت، خلگ بيا هم لږه تېروتنه کوي، ځکه هغوی په دې توانیدلي، چي وگوري تاسو څه ډول چي یاست؛ په هماغه ډول درته وگوري، نه هغه ډول چې تاسو يې غواړئ. ټولنه د وخت په بهیر کي شاید سخت دریځه وي، مگر عادله ده.

په داسې موردادو کې شاید په داسي پرتلني لاس پورې کړی او له ځان سره ووایاست: پلانی او پلانی دا ډول وو، ولې څه يې په باره کې ونه ویل شول، خو زما په هکله ویل کیږي. دا ډول پرتلنه پرځای نه ده.

چاپیریال کولای شي، ځیني ځایونه ویني او ځیني ونه ویني. نشو کولای چي له چاپیریال څخه د سوپر کمپیوټر تمه ولرو. نه شو کولای، چي چاپیریال پیاوړی پرېکړه کوونکی او نه تېروتونکی وبولو، خو که چیرته چاپیریال تاسو - ستاسو په وجه د ځانه لیري او نقد مو کړي؛ نو پر سد راشئ، د ځان د ساتني پرځای، د ځان علاج وکړئ. تجربو ښودلې ده، چي د عمومي ټولني پرېکړي بې ځایه نه وي.

بېځايه د ځان دفاع بد عادت دی، خو د ځان سنجول، عادلانه کړنه ده. د نورو د انتقاد پر وړاندې غوصه کېدل ښه کار نه دی، خو د نورو د انتقاد په زغم سره اورېدل، د سمو ټکو منل او په سړه سینه ناسمو عناصرو ته ځواب ویل، یو ښه او روا عمل دی.

**موږ داسي انقلابي انسان ته په خپل چاپېریال کې اړتیا لرو، چي په حساسو شرایطو کې ټول د هغه خبرو ته غوږ ونیسي او د هغه عکس العمل ته په پام سره وګوري او حتا له هغه څخه پیروي وکړي. موږ باحیثیته انقلابیانو ته اړتیا لرو، چي د حیثیت او شخصیت لاسته راوړل آسانه کار نه دی: لویو کارونو، صبر او زغم ته اړتیا لري.**

مرد مصاف در همه جا یافته می شود

در هیچ عرصه ،مرد تحمل ندیده ام

# ۱۱.

# څو فلسفي کيسې

په دې رساله کې څو فلسفي کيسې، د ډاېنامیکې بشرپېژندنې[۱۵] د موضوع سره ور زياتوو، تر څو، لوستونکي د رسالې په سر کې د راغلي بحث په اړه، لا زيات پوه شي.

دا بحثونه عبارت دي له:

۱) د انساني نوعي د بدلون پړاوونه، چې په هغه کې (زما) له (زموږ) څخه جلا شو (قبيله+ټبر+قام=جمع) د جمع درېدل د پانګوالۍ تر ژيړ آس پوري د (زما) پروړاندې او بيا د (زما) او (زموږ) عالي ترکيب، چې په راتلونکي بشري ټولني (سوسياليزم) کي تر بحث لاندې دی.

۲) دوهم بحث عبارت دئ، د تکامل د څرخ او محرك په توګه، د انسان د پنځونکي، مترقي او له زياره ډکو کړنو څخه چې طبيعي خبره ده، يو زيارکښ انقلابي انسان به له دې ډول انسانانو څخه وي.

۳) دريم بحث عبارت دی، د انسان له روزني څخه (سليم عقل په سالم بدن کې دئ) دا بحث، د انساني روان کليدي دوران د انسان په ژوند کې مطرح کوي.

۴) څلورم بحث د نېکمرغۍ پېژندني دی. د انسان تر نامه لاندې ښه ژوند کول.

---

[۱۵] Anthropologie dynamque

۵) پنځم بحث عبارت دئ، د طبیعت او تاریخ په جبر کي، د ټیټ او مجبور انسان څخه، د پیاوړي آزاد انسان پوري رسېدلو څخه - او ددې پرمختګ او اوښتون نور اړخونه تر بحث لاندې نیسي.

٦) ددې مباحثو اړیکه له تیرو اصلي څپرکو سره علمي - فلسفي ده، نو په همدې خاطر لیکوال ښه ګڼلې ده، چي دا بحثونه له تېرو څپرکو سره یو ځای او د رسالې غناء لاپسې زیاته کړي.

**د پورته بحثونو عنوانونه موږ په لاندې ډول راوړو:**

الف: د انساني نوعې د بدلون پړاوونه

ب: د تکامل اصلي محرك؛ د انسان پنځونکی او مترقي عمل

ج: روزنه (سلیم عقل په سالم بدن کې دی)

د: ښه تره او له نیکمرغیو ډك انساني ژوند

ه: د اوښتون لوی دوران

الف- د انساني نوعي د اوښتون پړاوونه[١٦]

انسان یو ټولنیز ژوی دی، یعنې ژوند یې د خپلو همنوعو پرته نا ممکنه دی.

**د بیولوژیک اړخه انسان، یوازې په ټولنه کې په انسان بدلېږي. یعنې، پر پښو درېږي، پر لار ځي، خبري زده کوي، فکر کوي، د تېرو نسلونو کلتوري میراث اخلي او له ټولو اړینه دا چي نوښت ته مخه کوي. وسایل او اوزار جوړوي، د ژوند وسایل**

[١٦] - په دې کې شک نه شته چې استدلالات یې د نورې نړۍ څېړونکو په لاس ورکړي.ولې د بحث اساسي جوهر او پایله اخستنه په خپله مولف پورې اړه لري.دا علمي مبحث په خپله د مولف د موندنو نتیجه ده او په مختلفو ډولونو یې په لیکنو کې راغلي.

**رامنځته کوي او د نورو ځناورو په څېر، د ژوند کولو وسایل مستقیماً له طبیعت څخه ترلاسه کوي.**

انسان له ټولني پرته، پریماتر (هغه ځناور چې میلون کاله مخکې یې ژوند درلود) او هومویید دی او د انسان[17] لوړې درجې ته نه رسېږي.

ټول ژوندي ژوي ډله ائیز دي، خو ټولنیز موجودات نه دي. پاڼي، باکټریاوي، د شاتو مچۍ، میږتون، پنگویان، موش خرماوې او دې ته ورته نور ژوي په ډله ائیز شکل ژوند کوي، خو نور ځناور انفرادي یا د جوړو په ډول اوسېږي او په یوازي ځان ښکار کوي.

هغوی په لنډ او موقتي وخت کي خپله جنسي غریزه، د خپل همنوع مقابل لوري سره رامنځته کوي، یا په یو تصادف کې رامنځته کیږي او له مینځه ځي. هغوی نور خپلوان او همنوعان نه لري.

کوم موجودات چي د میږتون او د شاتو مچیو په څېر ډله ائیز ژوند کوي؛ د خپل همنوع سره یې اړیکه تر غریزې او ځاله گۍ پوري تړلي وي. لومړی خو ددوی اړیکه مستقیمه (وگړی ـــ ټولنه) او کله د خپلو همنوعو سره یې اړیکه د طبیعي کار د وېش پر بنسټ وي. د اړیکو بل ډول (کورنۍ، د یوه فکر پالل، همکاري، دوستي او نور...) نه لري. دوهم ټکی دا چي، ددوی اړیکه د دوی په واسطه نه درک کیږي. ددوی اړیکه یوازي د شتون او شته والي پر اساس ده، لکه د پاڼي او ونې اړیکه.

مگر انسان چې هم ډله ائیز ژوی دی او پرته له ټولنې څخه ژوند نه شي کولای، د خپلې نوعي په تکامل کې له دریو پړاوونو تیریږي:

[17] homo

اول پړاو (چې اوس مهال يې تېر کړی دی) د قوم او طايفې سره، د ځالي تړاو دی. البته ددې تړاو، مثلاً د ميړتون او د شاتو د مچيو سره په دې کې دی، چې په مراتبو پيچلې ده، ځکه چې کورنۍ او طايفه د کار د آګاهانه وېش مينځګړي پوړۍ دي. د وګړي رابطه له کُل سره؛ داسي فکر کيږي چې دا دوران به لسګونه زره کاله په دوام سره له منځه ځي، خو په دې دوران کې د فرديت (زما) خبيث، خو نابغه شيطان، د ټولني پر وړاندي لا نه دی ولاړ شوی.

دوهم پړاو، چې تراوسه پوري يې لسګونه زره کاله تيريږي. دا ډېره پيچلې دوره ده، ځکه چې په هغه کي د وګړي جلا کېدل او له جمع څخه د فرديت پيدايښت، د (زما) رامنځته کېدل او د ځانګړي شخصيت را منځته کېدل پېښ شول. ددې بهير را منځته کېدلو، د خصوصي مالکيت او د اضافه ارزښت د ښکاره کېدلو سره مرسته وکړل.

خصوصي مالکيت د غلامانو د کار په غصب (نه د شخصي مالکيت چې د خپل ځان څخه د ګټي اخيستني پر بنسټ دی) او قوماندې، چې په ټپل شوي ګټي اخيستني او خودغرضۍ ولاړ دی (نه د داسي قوماندې، چې د ټولني په ګټه اداره وکړي) ددې (زما) رامنځته کيدو سره چې د ټولني ضد وو؛ کومک وکړ.

د (زما) رامنځته کيدل چې (د ټولني سره د وګړي د ټکر پيل وو) اقتصادي پايلې يې (خصوصي مالکيت) او ټولنيزې - سياسي پايلې يې (طبقات او د دولت امتياز لرونکي طبقات) ول او پرته له شکه يې داسي بدۍ را منځته کړې، چې د ټولني اکثريت يې د بې وزلۍ، غلامۍ، جهالت او بې اتفاقۍ سره مخ کړل، خو زياتي ښېګڼي يې هم له ځان سره درلودې.

په ټولنه کې د آزادۍ د مفهوم او خپلواک وګړنيز شخصيت او د ټولني د دوه قطبي کېدلو سره، د هغه ارواپوهنيز پيدايښت، هر يو يې ځانته خپل ځانګړی کردار لري.

څرنګه چي انسان د اول پړاو پر مهال، د روحياتو په چوکاټ کې څناور پاتې وو؛ په دوهم پړاو کې په نيمه څناور بدلېږي. عقل د غريزې ترڅنګ وده کوي. ټولپالنه، د وګړپالني سره يو ځای، يعنې د ټولني سره مينه، د ځان سره د ميني ترڅنګ وده کوي.

**تراوسه موږ د دريم پړاو په سپېده چاودو کي يو، چيري چي د توليد ځاني وسايل، په ټوله ائيزو وسايلو اوړي او د انساني فرديت د ودي د شرايطو (حکمت، اخلاق، د عمل تګلاره او نورو) سره، چي د وګړنيز - ټولنيز انسان (يا ټولنيز وګړي) د را منځته کېدو امکان برابروي؛ پر خوا ځي.**

دا وګړی، په عين حال کې د ټولني سره کلک تړاو لري. هغه يو خپلواک شخصيت او آزاد انسان دئ. د هغه ټول شخصيت د هغه په عمل او فکر کې ښکاره کيږي. هغه نه په تپل شوي او اجباري ډول، بلکې په داوطلبانه ډول د خپل درک او پوهي سره يو ځای، د ټولني په خدمت کې دی، هماغسي چي ټولنه د هغه په خدمت کې ده. په دې پړاو او دې ټولني (سوسياليستي ټولني) کي د وګړي او ټولني ترمنځ دوښمنانه ټکر (چي د مرئيتوب، ځمکوالۍ او پانګوالۍ د خصوصي مالکيت څخه رامنځته شوي ول) حل کيږي.

تاريخ چي يو وخت خپلسری طبيعي بهير وو او وروسته يو ټولنيز آګاهانه بهير شو؛خو بيا هم د دردونکو تناقضاتو او انساني ضد کړنو څخه ډک وو (اوس هم دی) او وروسته، د انساني تعاون رامنځته کونکی او د ټول انسانيت په يوځای کونکي بدلېدونکی دی. (زما) (يوازي زما ؛زما؛؛ رامنځته شوی) نه يوازي له منځه نه ځي، بلکې د (زموږ) په جوړ شوي ګلدان کې لا ډېر تازه کيږي. د (زما) او (زموږ) دوښمني چي بايد پر يو بل برلاسي شي؛ له منځه ځي. زما او زموږ د يو بل تکميلونکي کيږي او د (زما) پرديتوب (ايلينېشن) [18] پای ته رسيږي.

---

[18] alienation

موږ اوس د نیمه ځناورو په دوران کې یو، د (زما) او (زموږ) د دوښمنانه ټکر په اوږده او رنځونکي دوران کې ژوند کوو. څرنګه چي د (زما) تګلاره او د هغه اداره په ټولنه کې ده؛ د ټولني دا تکامل د (زموږ) څخه د دوه قطبي زما او زموږ پر لور او وروسته په انساني ټولنه کي د زما - زموږ ګډ منځ ته راتګ، د وینو لړلو ټکرونو او رواني رنځونو سره یو ځای دی. په ځانګړي ډول، د نړی د تمدني زمینې د نه شتون او د نړۍ د تمدن نامتناسبي ودي، د ګوتو په شمار ستونزو، زموږ کار پېچلی کړی دی[۱۹].

په دې تحلیل کې انټروپولوژي (بشر پیژندنه) د سوسیولوژۍ (ټولنپوهني) سره یو ځای کېږي، یعنې متحرکه انټروپولوژي د تړلي[۲۰] او بې تحرکه انسان ځای چي د ثابتو غرایزو سره غوټه دی؛ نیسي او انسان د خپل ژوندانه د ټولنیز تکامل په اوږدو کې راښیي.

دا تحلیل په موږ کې دا خوش بیني رامنځته کوي، چي کولای شو نیمه وحشي انسان، په پوره انسان بدل کړو او د فردي مالکیت او مطلق فردي - طبقاتي (زما) په ټولنیز مالکیت او حاکمیت چي په هغه کي (زما) کاملاً آزاد وي او هغه د (زموږ) سره همغږی کوي؛ واړوو.

د دریم پړاو پیدایښت، چي د پورته د دوه نوعو سنتیز دی؛ عبارت دی له:

۱) سیاسي - ټولنیز اوښتون

۲) اقتصادي - تخنیکي اوښتون

۳) فرهنګي - رواني اوښتون

---

[۱۹] ددې دوران ځلور ټوکه تاریخ ( د پخوانی نړی-یونان-روم او منځنی پیړیو) چي د شوروي مورخینو تر نظر لاندي لیکل شوی؛ د تمدن په اړه زموږ مالومات زیاتوي.

[۲۰] complece

په لومړني اوښتون کې باید طبقاتي جوړښت واړول شي. په دوهم اوښتون کې باید د کار د وېش د نړیوال مقیاس سره نوی نقشوي او جمعي اقتصاد، ټولنیز مالکیت او تولیدي وسایل، د تعاوني اړیکو پر اساس رامنځته شي او په دریم پړاو کې کلتور، چې سرترپایه د (زما) او (زموږ) جدل دی؛ بدل شي او د ذوق، منطق او کاري تګلاري روحیات په ځانګړي ډول رامنځته شي او په پای کې نوي انساني اروا‌پوهنه را منځته شي.

موږ د دوهم عصر په جریان او د اوښتون په پړاو کې ژوند کوو. دا پړاو د ډېرو لوړو - ژورو ډک پړاو دی. که وغواړو یا ونه غواړو؛ دا دوران له ټکرونو ډک دی. سمه ده، چې د مترقي ځواکونو په پیاوړي کېدو سره دا خواری کمېږي، خو دا کار لا تراوسه څو نوري لسیزې په بر کې نیسي (افسوس چې زموږ همزولي په همدې ورځو کې هدیرې ته ورنږدې کیږي!)

که ونه غواړو او په همدې ځای کې یې ودروو او د علمي فرضیې په اتکاء سره، د راتلونکو انساني تکاملي پړاوونو د وړاندوینو په لټه کې شو؛ هغه وخت بل مطلب مطرح کیږي.

موږ د تکامل د تاریخ په داسي دوران کي یو، چې (انساني پیدایښت) یا (انټروپوژنز)[21] نومیږي، یعنې د پریمات بدلېدل په انسان ډوله (هوموییډونو) او بیا د هغه بدلېدل، د انسانانو په بیلابېلو ډولونو لکه: ماهر انسان (هوموهابي لیس[22]) ناندرتال انسان ( ناندرتال[23]) او عاقل انسان (هوموساپینس[24]) باندي، چې موږ په خپله یو؛ بدلېږي.

[21] anthropogenese
[22] Homo habilis
[23] Homo nendertalensis
[24] Homo sapiense

د هوموساپینس له پیدایښت څخه وروسته، د انساني تکوین (پیدایښت) دوران پای ته رسېږي او د ټولنیز تکوین دوران (سوسیوژنز)[۲۵] رارسېږي، یعنې د انساني تمدن د تکامل او د هغه د دورو پړاو پیلېږي. هغه څه چي موږ په تېرو موضوعاتو کې وویل، هغه دا دواړه دورانونه (انساني تکوین) او (ټولنیز تکوین) په بر کې نیسي. مگر په پیاوړي وړاندویني سره؛ د ټولنیز تکوین باور به په ټولنیز - انساني تکوین بدلیږي، یعنې هغه دوران چي انسان به د عملي جنیټېک د علم په ملتیا (عملي یوجنیټک[۲۶]) او سیبرنتیک[۲۷] او د نورو علمي بهیرونو په واسطه وتوانېږي، په خپل بدني - رواني (سیکوسوماتیک[۲۸]) کې لاسوهنه وکړي.

زموږ په رواني او جسمي جوړښت کې زموږ لاسوهنه ساده کار نه دی. بشر حق نه لري، چي په دې له مسئولیته ډک کار کې په چټکۍ او ناپاملرني سره لاسوهنه وکړي.[۲۹]

که وغواړو د دوهم وېش ځای، د لومړي وېش په داخل کې وټاکو، باید ووایو، چي (انساني تکوین - ټولنیز تکوین) بې له شکه به په راتلونکو پېړیو کي، د (زما ټولنه - زموږ) سره تړاو ومومي. دا چي دا آگاهانه بدلونونه زموږ په ماغزو او جسم کې را منځته کېږي؛ پر کوم لوري ځي او کومي پایلي را باسي؛ لږ تر لږه زموږ نسل ته د وړاندویني وړ نه دي.

د زما – زموږ ټولني د لوړي کچي ته په رسېدلو سره، کولای شو ډاډه اوسو، چي (انساني تکوین - ټولنیز تکوین) (نټروپوسوسیوژنز) د انسان د بیلابېلو اړخونو په ژورو کې ترسره کېدلای شي. د همدې بدلون پړاوونه دي، چي سرښندونکې، آگاهانه او ډله ائیزه انساني

[۲۵] sosiogeese
[۲۶] Eugenique pratique
[۲۷] cybernetique
[۲۸] Psycho-somatique
[۲۹] په دې مساله کې تراوسه بحثونه روان دي. د شوروي پوهانو په اند د (retot baby) کې د مور د بطن په دننه کي د امیدواره کولو څخه دي په ټینګه ډډه وشي، ځکه دا د انسان په ژوند باندي یو ډول لوبه ده، خو دوی په یوجنیټک کې لاسوهنه مطلق نه ردوي.

مبارزه پکښې ډېره غوښینه برخه اخلي او پر همدې اساس په تاریخ کې د ځانګړي ځای او مقام لرونکي دي.

دا پورته ویل شوي بدلونونه ددې لپاره دي، چې انسان وکولای شي، په لویو وچو، فضاء او زمور د منظومې په نورو کُرو کې ژوند وکړي او خپل ځان د نویو شرایطو سره همغږی کړي.

نن ورځ د پروسته ټیک[۳۰] په نامه علم باندي، چې د انټګرال د مدارونو اضافه کولو سره، د ماغزو د بیلابېلو برخو د میناتوریزه کولو او د هغه د برخو د چلند د ښه والي او پیاوړتیا لپاره کار کوي؛ بحثونه روان دي. دا کار د جنیټیک پرته، د کروموزوم په کوډونو کې لاسوهنه او د هغه کنټرولونکي پایلي دي. د نورو ځناورو په شان، انساني تکامل یوازي د طبیعت د تضاد محصول نه دی؛ بلکې انساني لاسوهنه یې لا ګړندی کوي.

نننی انسان، د همدې ځنځیر یو کړی ده او د تکامل په کتاب کي د تمدن پای نشته.

د وخت په تیرېدو سره کولای شو، ددې کتاب یو څو څپرکي ولیکو، له یو څو څپرکو یې خبر شو، خو له دې زیاته تمه نه شو کولای. موږ د هغه ابدیت یوه شېبه یو، چې موږ په خپله نه ده ټاکلې، خو د هغه څرنګوالی دردونکی او حیرانونکی دی.

سمه ده چي موږ د نیمه وحشي انسان په دوره کې ژوند کوو؛ هغه انسان چي لا په پوره مانا انسان شوی نه دی؛ د هغه پر خوا لار وهو، سمه ده چي د انسان کېدو دوران یې نه دی بشپړ کړی[۳۱] او لا دوام لري، سمه ده چي (زما) د شتمنۍ په زور ځان، پر (موږ) تحمیل کړی او هغه د مرئي په ډول په پټو سترګو ځان پسې راکاږي، نو بیا خو دا هم سمه ده چي موږ د تاریخ جبر، د تاریخ ټراژیډیک دوران او یا حتی د ماقبل تاریخ وخت

[۳۰] prosthetique
[۳۱] hominisation

تېروو. په دې ناوړه او ستونزمن دوران کې، ځواک او تېرایستنه پر حقیقت برلاسي دي او تاریخ د وحشت (زماوو) څخه ډک دی. په دې دوران کې د هغه انساني کارنامه د اوښکو تویول دي. د معاصر انتولوګ، لورنتس په وینا[۳۲] د انسان او حیوان ترمنځ د ورکي شوي ډلي، ټول تاریخ د غمونو، اوښکو او وینو بهیر دی.

یو لاتیني متل دی: (په پای کي به زموږ له هډوکو غچ اخیستونکی راپاڅیږي!). د قربانیانو له هډوکو به غر جوړ شي او د ظلم آسمان به راونړوي. انسان شوی انسان به، یوه ورځ وحشیتوب ته د کرکي څخه ډک ځواب ورکړي. هو، په پای کي به غچ اخستونکي راپورته شي! په دې تمه ځیلي دوران کي، چي تراوسه یې ډېر انتظار پای ته رسېدلی، د داسې انسانانو لپاره ژوند کول چي وحشي اړخونه یې لږ او انساني اړخونه یې زیات وي؛ ژوند ستونزمن دی.

هغو کله (کمزوري موجودات)، کله (لیوني)، کله (احساساتي) او په ښه حالاتو کې (واقعي او بې مثاله انسان دوستان) شمېرو. بس یوازي د همدې لقبونو مستحق دي. په دوی کې تر ټولو ښه ډله، هماغه انقلابي انسانان دي، چي په دې رساله کې یې ستاینه شوې ده. د تاریخ طبقاتي او استثماري تګلوری د یو بل د شکولو، دوکه کولو او په ځنګل کې د ځناورو په شان ژوند کولو غوښتونکی دی او که څوک عاطفي واوسي، چي د ورځني واقعیتونو سره اړیکه ونه لري او احمقانه غوښتني وړاندي کوي؛ د نیمه ځناور انسان په ډول لیونی، عجیب او غریب دی.

دا د فسادونو څخه په ډک تاریخ کې، ټولي هغه خواوې چي په دې مشکوکي او ناوړي جګړې کې ځواک او تمایل نه لري؛ رنځیږي. هغوی د وحشت سره لېوالتیا نه لري. د لوټ - تالان سره یې فطرتاً نه ده جوړه. دودیز منطق ورته د منلو نه دی، خو بیا هم مجبور

---

[۳۲] lorenz

دی چي ژوند وکړي او د ژوند سره، د ستورو او آسمان سره، د سیند سره، د همنوع د ښکلي خیرې او اخلاقو او نورو...سره مینه وکړي. هغه غواړي مینه رامنځته کړي، خو نه یې شي کولای. هغه د قطاع الطریقو په منځ کې ورک شوی، مبتکر انسان دی، خو د هغه لپاره یوازې یوه لاره پاتې ده؛ هغه دا چي وجنګیږي او نوې نړۍ رامنځته کړي.

ب- نوښتګر، زیارکښ او مترقي انساني عمل، د تاریخ اصلي محرک دی

د رسالې په متن کې مو بیا - بیا ویلي، چي د تاریخ رامنځته کول او جوړول په انسان پوري اړه لري. غبرګون ښودونکی انسان، په دې شرط چي نوښتګره کړنه وکړي او د ټولنې د ودې د غوښتنو په اړخ کې انساني کارنامې وکړي؛ هغه د تاریخ د تکامل اصلي خوځښت را منځته کونکی دی او په خپله هغه د تاریخ قهرمان او پرومته دی. (پرومته: په یوناني اساطیرو کې د اور رب النوع دی.ژ)

یواځې د تاریخي کړني او تاریخ جوړونکو کړنو په خاطر، انسان تاریخ لري او ځناورو لره تاریخ نه شته.

ددا نوښتګر او اتل انسان برخلیک، هم نن ورځ او هم په آینده کې د لیدلو وړ دی، برخلیک یې ستونزمن دی. ځکه دوه دوښمنان یې مخ ته راځي:

**الف) طبیعت: مړینه، زړښت، ناروغی، زلزله، اور، ګواښونکي ځناور، توپان، وچکالي، قحطي، یخني او ګرمي (چې هر یو ځانته ځانګړی شکل نیسي.) دا ټول کولای شي، د انسان شتون او هوساینه د ګواښ سره مخ کړي.**

**ب) طبقاتي ټولنه: له مجازاتو، ځورونې، زندان، تبعيد، بېکارۍ، بې وزلۍ، محروميت، سپکاوي او تمسخر، او نورو لويي بلاوي لکه جګړې، لوټ تالان او نورو سره مخ کېدل.**

کله کله زموږ اتلان د دې دوو دوښمنانو له لاسه د وژونکو ګوذارونو سره مخ کېږي. په ځانګړي ډول، ټولنيز دوښمنان، تر طبيعي دوښمنانو ډېر سخت زړي او متعصب وي.

انسان کوچنی موجود دی. اويا، يا اتيا کاله عمر لري. په داسي عصر کې چي په خپله ده نه دی ټاکلی، په داسي جغرافيه کې چې ده نه وي ټاکلې او په داسې طبقه کې چې ده نه وي ټاکلې؛ دې دونيا ته راځي او ترڅو چي ځان پېژني وخت يې له لاسه وتلی وي، چاپيريال خپلي اغيزې ور باندي اچوي او ښه و بد تصادفونه هغه د وچي پاڼې په څېر، پر يوې او بلې خوا ځغلوي. زموږ اتلان، په داسي حالت کې نه يوازې ټولنه، بلکې طبيعت هم بدلوي.

ددې بدلون لپاره نوښتګر عمل او هڅه اړينه ده. يوازې دا عمل په ګواښونکي ډول څرګندېږي، ځکه دا د طبيعت او د ټولنې د ځواکونو سره وحشتناکه جګړه ده.

پنځه شرطه اړين دي، چي د انسان نوښتګره کړنه حاصل ورکړي:

اول شرط: عمل بايد د سمي پېژندني څخه سرچينه اخيستې وي او د تاريخ د تکامل په اړخ کې، د تکامل د داخلي قوانينو سره موافق وي.

دوهم شرط: کړنه او عمل بايد سازماني او جمعي بنسټ ولري. آګاهانه رهبري او د نورو وسايلو سره يو ځای وي. (هغه کارونه چي مهارت غواړي؛ ډېر سخت وي.)

دريم شرط: عمل بايد نوښتيز او ليري - نږدې ټولو خواوو ته سنجول شوی او اغيزه پرېښونکي ډول وي، نه داسي چي خپلسری، تکراري او د وړاندويني وړ نه وي.

ځلورم شرط: عمل باید د زړورتیا، داوطلبانه قربانۍ او د ماتي منلو سره سرته ورسېږي. هغه انسان چي تاریخي کړنه ترسره کوي؛ باید کلک، زړور، مقاومت کونکی، نه ستړی کېدونکی، هیله من، له ولولو ډک، او په جګړه پوه وي. د تاریخ اتلان کېدل، د ډارنو انسانانو کار نه دی.

پنځم شرط: زموږ اتلان باید له تمي او شخصي غوښتنو پرته کړنه وکړي او د خپل محدود عمل چي څومره ورته تاریخ اجازه ورکړې وي؛ څخه خوشاله وي او د تاریخ څرخ یې، که څه هم یوه پلا وي؛ تاو کړی وي.

په پای کې، زموږ اتلان د وفادارو ملګرو سره، منزل ته رسېږي. که څه هم هغوی ابدي نه دي، خو تاریخي مبارزه یې ختمیدونکې نه ده! دده د کار پای، د نورو د کار پیل دی. کله چي د هغه کار په زړه چاودون سره پای ته ورسېږي او د بریالیتوب شات نوش جان کوي؛ تازه یې هغه کار نه دی خلاص کړی، چي د بل کاروان سرلاری کیږي. یوازي څه چي د انسان موقتي ژوند ته واقعي محتوی ورکوي او هغه ته د تاریخ په تګلوري کې ځای ورکوي؛ هغه دده همدا نوښتیز او پنځونکی عمل دی، نو ځان باید ورته وروزو.

په دې ترتیب سره، په طبعیت او تاریخ کې د انسان لاسوهنه او د ژوند کولو د مسئولیت منل، تر هغه زیات د ښه ژوند لپاره مبارزه کول او د انساني تمدن پرمختګ، په خپله یوه حیرانونکې پیښه ده.

روښانه ده، چي کولای شو په بیلابېلو ډولونو سره ژوند وکړو. کولای شو د یو اړ موجود او یا حشراتو په څېر د نورو په اوږو کي ژوند وکړو؛ کولای شو د چینجي په څېر رامنځته شو او پرته له کومي نښانې له منځه لاړ شو او یا د تاریخ په بستره کې ژوند وکړو.

د تاریخ بستر یعنې څه؟ یعنې هغه ځای چیري چي د تکامل رود بهېږي. یعنې هغه ځای چي څپې یې د طبیعت او ټولني د لویو تیږو سره، په لوړ آواز، په جګړه دي.

د تاریخ په بستر کې د ژوند کولو لپاره باید تیارې وایستل شي. یا د گورکي په قول: هغه ځای چي د توپان مرغان رامخته کیږي او ډارن ټپوسان خپل غوږ بدنونه د لندو تیږو شاته پټوي. کله چي نړۍ د توپانونو، وریځو، ځپو او نورو... نړۍ وي، د زړورتیا پرته انسان بله چاره نه لري.

ټوله هستي یو غورځنګ دی. په ټولو انسانانو کي یوازي ځیني انسانان د ټولني د حرکت او تکامل سرچینه گرځي. هغوی کله ځان بېځایه د لاسه ورکوي او د ایرو په ځېر د دیوال لاندي پراته وي، یا د امتیازاتو په تکیه ځای کي یې په لتې سره ډډه وهلې وي. نور نو، د حیواناتو او نباتاتو جامده نړۍ ترې ښه وي. د جدل نړۍ، د جگړو او مرگونو ډکه ده.

**د انساني تکامل پر ټغر زړور او مسئولیت منونکی ژوند کول او د هستۍ او خپل ځان لپاره د تکامل د څرخ څرخول او ددې تنور لپاره د ځان سوځول؛ همدا انسانیت دی.**

هغه رښتینی اتل، چي انساني نسلونه د هغه لپاره روزو.

**موږ په دې رساله کې تر ډېره بریده هڅه کړې ده، چي د هغه انقلابي انسان څېره رسمه (انځور) کړو.**

ج- روزنیزه نقشه [سالم عقل په سالم بدن کې دی][۳۳]

په هستو یا لومړنیو باکټریاوو کې، د انسان په نیکونو او انسان ډوله (هومویډنونو) کي د ژوند ټولنیز شکل په فطري ډول موجود و.

یعنې، یوازي ټولنیز ژوند دی، چي زموږ ټولنیز فطرت ته په کامله مانا وده ورکوي او د هغه د تکامل لامل گرځي.

[۳۳] Mens sano in corporem sane

زموږ ټولنیز ژوند په خپل وار سره د بې مثاله انسان ډولو د سازماني ژوند په سیکوسوماټیک[٣٤] کې رامنځته شوی. په همدې ډول د انسان ډولو یو ډول اغېزه (چې لا تراوسه انسانان شوي نه وو) د ټولنیز ژوند د بهیر ترمنځ (چې انسان ډولي یې په ماهر انسان، نه آندرتال او د نن ورځې په علقمند انسان واړول) تر سره شوی دی.

د انسان ډولونو عمده بېلابېل شاخصونه عبارت دي له: د بېلابېل والي د بهیر د آواز ابدي تېزوالی، ددې بیلابیل والي لوری (چې په یوازې لوری نیونه کې خوځښت کوي او په خپله نوعه کې بې بېلګي دی) او د خوځښت پراخه میدان او د مختلفو انواعو شکل نیونه (د نني انسان د بې ساري تنوع سره په پوره ډول موافق دی.)

د بیلابېل والي د میکانیزم د ژور درک لپاره د ذکر وړ دي، چې مغز د بیلابېل والي له بهیر څخه د یو داسي واحد سیستم په حیث تیر شوی، چې اغیزه او عمل یې، نه یوازي عصبي جوړښتونه، بلکې ترشحي غُدې (هورمونونو) هم په بر کې نیسي.

هورموني مکانیزم د عصبي دستګاه په څېر، د انسان فردي تکوین (انتوژنز[٣٥]) په بهیر او د هغه په جسماني (فیزولوژیک) چاره کې مهم دی.

نو ماغزه، د دوو بهیرونو په تنظیم کې اغېزناک دی: اعصاب او ترشحات چې په خپله هغه د فردي انساني تکوین تنظیمونکي دي.

د انساني بیلابیلوالي په اوږده تګلوري کې، مرکزي عصبي او هورموني سیسټم په خپل وار سره بدلون کړی دی. دا تنوع په خپله د شدید او پېچلي بدلون سبب شوي دي، یعنې ددې سبب شوي، چې کومي ځانګړتیاوي د پخوانیو تنوع پر اساس رامنځته شوي؛ له منځه یوسي یا په اصطلاح (د ثبات له منځه وړونکی) شي.

---

[٣٤] Psycho-somatique
[٣٥] ontogenese

يو له هغو ټاکونکو اسبابو څخه چې ژوندي موجودات يې په بيلابېل والي کې کاروي؛ په ټاکنې پورې تړلي دي، ځکه ټاکنه کولای شي چې بيلابېل چلندونه وکړي.

د بيلابيل والي په بهير کې په ټولو انواعو اغيزې ليدل کيږي. د ټاکنې اغيزې د بدلون په بيلابېلو پړاوونو او چاپيريالي وضعيت (ايکولوژي) کې ځان ښودلی او په کار وړل شوي دي.

د اداري کولو دا اغيزې، ثبات له منځه وړونکي مخکينی ځانګړتياوي، د نوي ثبات او د ثبات د ځانګړتياوو رامنځته کونکو او نورو کې ښکاره دي. يعنې د ژوندي موجود له لوري د ژوندانه د چاپيريال ټاکنه، د ژوندي موجود د پخواني جوړښت د نظام د ړنګېدو انګېزه او د نوي نظام رامځته کيدل دي، چې نوی کيفيت به لري.

نو لکه څنګه مو چې وويل، د ژوندانه ځانګړتياوي او ټولنيزي ځانګړتياوي يو له بل سره تړاو لري او د روحي او جسمي ځانګړتياوو ترمنځ اړيکه ده، نو دا څېړني موږ دې پايلي ته رسوي، چې د انسان جسمي فعاليت، يوازي بيولوژيکه نه؛ ټولنيزه پديده هم ده.

موږ بايد وتوانېږو، چې د انسان د روان او د شخصيت تکامل چې د وګړنيز تکامل له برخو څخه دي؛ څخه روښانه پايله ترلاسه کړو.

طبيعي ده چې دلته هم زموږ چلند بايد بيلابيليز (ايولوشينيستي[٣٦]) وي.

ننني بېلابېليز چلند، په تاريخي او جوړښتيزو اسلوبونو باندي ولاړ دی، ځکه چې غواړي د سيسټمونو د ځانګړتياوو پېچلي (کمپلکس) او ډيناميکي تيوری تر څېړنې لاندي ونيسي[٣٧].

---

[٣٦] evolutioniste

[٣٧] د فلسفې بنسټونه زموږ دا بحث روښانوي که لوستونکی غواړي نو د همدې ليکوال بلې مقالې ته چې (زده کړه او ليد) دی؛ دي ولولي.

هم د ټولنيزوالي عامل او هم د ژوند عامل د انسان فردي روحي او جسمي بيلابيلوالي بايد په ټول پام سره تحليل او د ذکر شويو اسلوبونو پراساس، دې پوښتني ته رسيږو، چي د جسمي نوي کولو د روزني لپاره بايد انساني ټولنه (پوپولېشن[۳۸]) څه وکړي؟

ددې پوښتني لنډ ځواب داسي دی:

**لازمه چاره داده، چي له اوه کلنۍ څخه تر لس کلنۍ پوري د ماشوم روزنې ته ډېر پام وشي. د جسمي کمال په برخه کې، دا دوران د راتلونکو ټولو دورانونو د مسايلو حل دی. دا دوران د انسان د شخصيت او ځانګړتياوو (کاراکټر) په روزنه کې ټاکونکی او مهم دوران شمېرل کيږي.**

په دې موده کي، د اعصابو او ترشحاتو په برخو کې چي پورته مو يې يادونه وکړل؛ د مغز جوړيدونکې او تنظيمونکې وندہ خپل بنسټيز پړاو وهي او پر فردي تکوين باندي خپلي اغيزې پرېباسي.

نو له اوه کلنۍ څخه تر لس کلنۍ پوري د ماشومانو جسمي روزني (سپورټ) او اخلاقي روزني ته بايد ډېره پاملرنه وشي. دا په دې مانا نه ده، چي تر دې په لږ يا زيات عمر کې دي يې په روزنه کې بې پروايي وشي. دا په دې مانا ده، چي په دغه دوران کې دي ورته ځانګړی پام وشي.

په کُلي ډول، د انسان جسمي فعاليت، د اړينو او ډېرو پېچلو ټولنيزو او د ژوندانه د نورو اړيکو کيلي (چابي) ده او ورسره هم مهاله، د ژوندانه په ګټه او د طبيعت د لا ښه والي لپاره، د انسان د داخلي ځواکونو د امکاناتو څخه د ګټي اخيستني په اړه د څېړني يو ډېر ښه موډل دی.

---

[۳۸] population

څه چي مو په لنډ ډول سره وويل، د فردي تکوين په اړه د بيولوژي او اروا پوهني د علم وروستی لاسته راوړني وې، چي په پوره اندازه څېړنيز- منطقي بنسټ لري. زموږ په رساله کې دا مطلب ددې روښانونکی دی، چي د شخصيت د جوړېدو سرچينه چيرې ده؟

د- انساني او ښه تره ژوند کول

انسان د ټولو ژويو په څېر (له هغو څخه په مراتبو زيات) د غرايزو لرونکی دی. غريزې (د ځان ساتني غريزه او د نسل ساتني غريزه) او هغه خوند چي ترې ترلاسه کيږي، د هغي ښکلي نړی، چي د بيلابېل والي څخه ډکه او لايتناهي ده؛ ليدل، د پلټني هغه حس چي د چاپېريال له پيښو څخه د خبرېدني لپاره يې لري، د تلپاتي کېدو لپاره د هغه گومان، د هغه د (عدم) فکر د تلپاتي پرېښودلو په خوا کي، يا د نظامي د قوله (ددا زړه را ښکونکې مانې) پر لور سخت ټکان ورکونکی دی.

از آن سرد آمد این کاخ دلاویز

که تا جا گرم کردی، گویدت: ؛؛خیز!؛؛

د حافظ په قول:

جهان، چو خلد برین به دور نرگس و گل

ولی افسوس که در وی نا ممکن است خلود

دا انسان په دې نړۍ کې، د یوازي والي احساس، په ځانته والي[۳۹] کې کوي، ځکه د زماني، مکاني او تاریخي او د ژوند د پېښلیك د اړخونو څخه، د خپلوځانګړتیاوو له مخي یوازینی دی، نو ځکه په نامفهومه ډول سره ځانته پرېښودل شوی دی[٤٠]. د شاعر په قول:

با که گوییم راز،چون همدم نماند

می زیم با درد، چون محرم نماند

د انسان یوازیتوب د دوو پیاوړو جبرونو پر وړاندي دی: طبیعت او ټولنه، ددې څخه دده بې خبري چي څه کیږي او څه به وشي، د نورو له زړونو او حتی د خپلو نږدې کسانو د زړونو څخه دده نه خبرتیا، د هغو دردونو په درملنه کي پاته راتلل، چي طبیعت او ټولنه یې ده او دده خپلوانو ته ورکوي؛ په ده کې په یو شکل نه په یو شکل، د وېري، شك او غم د احساس سره ځان ښکاره کوي، له کومو چې دی غواړي تېښته او د هغو درملنه وکړي. تېښته[٤١] په بیلابیلو لارو سره کېږي. د ځان د بې سده کولو په واسطه،

**خوښیو او عیش و عشرت ته پناء وروړل، شوخۍ، مسخرو او پېغورونو ته لاس اچول، ورانونکي سرکښۍ ته مخه کول، په نورو باندي د ځان منلو لپاره د ځواک او شتمنۍ څخه ګټه اخیستل، میني، قربانۍ او ملګرتیا ته لاس اچول، برخلیک ته تسلیمېدل (نیچه ورته د تقدیر سره مینه وایي[٤٢]) مطلقه ناهیلي، په بلي نړۍ پوري ځان تړل او**

[۳۹] ipseite
[٤٠] Le grand abandonne
[٤١] escapisme
[٤٢] Amor fall

**داسي فکر کول چې هلته به نېکمرغي وي؛ د دغو ټول انساني حللاره، ددې نړۍ د بدلون لپاره قرباني ورکونکې هڅه ده.** د وروستۍ خبرې په اړه اقبال لاهوري څه ښه ويلي:

زندگی در صدف خویش گهر ساختن است

در دل کوره فرو رفتن و نگداختن است

مقصد زنده دلان خواب پریشانی نیست

از همین خاك جهان دگری ساختن است

نو د «انسان» مسئله د انسان لپاره لومړنۍ مسئله ده. مذاهبو او ډېرو عرفاني مکتبونو هم هغه مطرح کړې ده. د يونان لرغوني فلسفي (سقراط) څخه نيولې تر معاصرې فلسفي (له سورن کيرکه گارډ څخه تر ياسپرس، هيډګر ژان پل سارتر او نورو د فنومنولوژی او اگزيستانسياليسم پيروانو پوري) ټولو اشاره ورته کړې ده.

**په مارکسيزم کې هم مرکزي محور انسان دی، خو نه ځانته بېل انسان، بلکې تاريخي انسان. مارکسيزم کوښښ کړی، تر څو د انسان د نېکمرغۍ مسئله، د انسان د تاريخي برخليک له لاري حل کړي.**

انساني ژوند ستونزه ده. د شيخ خرقاني څخه له مانا ډك مناجات نقل شوی؛ هغه وايي:

خدايه!

د قیامت په ورځ، په هغه وخت کې چې د هر یوه عملونه ورته ورکړل شي او د هر یوه چلند ورته ښکاره وي؛ نو کله چې زما وار ورسېږي؛ او وخت پیدا کړم، زه پوهېږم چې څنګه معقول جواب ورکړم.

غږ وربانديي وشو: یا اباالحسنه! هغه څه چې د قیامت په ورځ ویل غواړې اوس ووایه!

ویې ویل: خدایه زه دې د مور په رحم کې پیدا کړم، په تیارو کې دې ویده کړم. چې پیدا دې کړم؛ وږې معده دې راسره پیدا کړه، چې پیدا شوم له ولږې مې ژړل. زه یې په زانګو کې کېښودلم، ګومان مې وکړ آسانتیا راغله. بیا لاس او پښې یې راوتړلې او سترې یې کړم. کله چې عاقل او خبرې کونکی شوم، ویل مې: له ډېر وخت وروسته آرامتیا راغله. ښوونکي ته یې وسپارلم. د ادب په لښته مې روزګار تریخ شو. له هغه ډاریدم. له هغه راتېر شوم، شهوت دې راباندې مسلط کړ، د شهوت له ګناه څخه مې بل خوا نه دې کتلي، ځکه د زناء او د فساد له وېرې مې ښځه په نکاح کړل، ماشومان مو وشول او د هغو مینه دې راته په زړه کې واچوله، د بدن د غړو درد دې راواچولو. له هغو هم راتېر شوم، ما ویل مرګ به راورسېږي، زما ساه دې په ملک الموت باندې په سختۍ سره وویسته...

**شیخ ابوالحسن د انسان رنځنامه ساده نیولې او په خپله د هغه ژوند لیک ډېر عادي او له پېښو تش دی. د جسمي کارونو رنځ، د دولتي ظلم وېره، د مبارزې وېره او هیلي، د سمندري لارو وېره، د غیرت او ژمني ماتول او د نورو حسد او کینه، د خپلوانو او دوستانو درد، قحطي، وباء، تباه کونکي جګړې او حملې، ناامنۍ، سرغړوني او وچکالۍ او نور داسي شیان د شیخ په مناجات کې نشته، خو په ورځني او عادي ژوند کې ډېر دي.**

اوس چي مو څه وويل؛ د حساب وړ دي. ددې کرښو لیکونکی، د اقوامو د تاریخونو له منځه، په ځانګړي ډول د روم د تاریخ سره لېوالتیا لري، ځکه رومي ټولنه په حیرانونکي ډول سره، د سیاسي - ټولنیز شعور لوړو درجو ته رسیدلې وه او د منورینو په افکارو کې یې ننني تفکر انعکاس کوئ. ددې یو علت دا وو، چي د یونان او مصر پر تجربو یې تکیه درلودل. بل علت یې دادئ، چي په خپله رومي تمدن د رنسانس له دوران څخه (یا د بیا روښانتیا ۱۳-۱۴ میلادي پېړۍ څخه وروسته) یې زموږ پر ننني تمدن باندي اغېزې پري ایښي دی. که یو ځل بیا د روم تاریخ په تفصیل سره ولوستل شي ( په ځانګړي ډول لومړنۍ سرچینې یې) او د سولانو، کاتالینانو، سیسرونویانو، پمپه یانو، کراسوسیانو، اوګوسټیانو، تثبریانو، کالیګولایانو، کلودیانو، نرونیانو او د نورو پېښلیکونه وڅېړل شي او د انسان برخلیک د هغه د واقعي پېچلتیا د عذاب نه منونکی انځور وڅېړل شي او هم د پلب د نوم ورکي کورنۍ، په څلور کونجه دنیا کې دا بې کوره مرئیان، دا خوځښتونه او نه ختمیدونکي دسیسې، دا چاپلوسان او لیوني موکه پرستان، دا له ځانه جوړ کړي خدایان، دا د ارواوو ټیټوالی او د چینجي په شان د تمدن د خوځښت او نور...

د نولسمې او شلمي پیړۍ رومانونه، د ډیکنز، بالزاك، هوګو، زلا، تولستوي، تورګنف، داستایه یوفسکي، رومن رولان، ګورګي او د لس ګونو نورو لیکوالانو آثار، چي پخپلو داستانونو کې یې انساني دردونه په اعجازي شکل لیکلي؛ دا هم هغه آثار دي، چي موږ ته راښیي ژوند کول څومره سخت دي، خو بیا هم ولي یو محروم ناروغه مریی ددې خوږو زهرو څخه په خپل نړېدلي، کور کې خوند اخلي؟ ځکه زموږ د بدن کوچني حجرات د ژوند په لوري ځکېږي، نه د منځه تلو لپاره.

سیسرون به ویل: (که چیرته مرګ د انسان لپاره حتمي وي؛ نشو ویلی چي نېکمرغه انسان شته.) دا مرګ هماغه د داموکلس[٤٣] وینه بهونکی تبر دی چي د پاچا پر تخت پروت وو

[٤٣] damocles

او ځوك نه پوهېدئ، چي هغه ښاخ به کله جلا کيږي او هغه سر چي ددې تبر نښانه وو؛ به کله د همدې تبر په گوذار پرې کېږي.

**د ځوانۍ او ماشومتوب د دوران مشکل په دې کې دی، چي د ژوند سختۍ او راتلونکی نه درک کوي او ددې موضوعاتو څخه په ليونتوب سره تېښته، د همدې نادانۍ او درمل لټوني له کبله دي.**

**انسان د برخليک په دام کې، د مرگ تر سيوري لاندي چي شېبه په شېبه ور نږدې کيږي؛ په وېري او تېښتي سره ژوند کوي. د ټولو تيښته بېځايه ده! عيش و عشرت او بې احساسه اوسېدل نېکمرغي نه رامنځته کوي، برعکس د تاريخ په کباړ بدلېږي او دايمي مختوری ور په برخه کوي. دا سرکښي، تاريخ په ځو سوکانو سره له پښو غورځوي. ځواک او شتمني کثافات او ژر تېرېدونکي دي. تسليمېدل د کار حل نه دی، نا هيلي ناروا ده.**

**ښايسته شوي گلان يا درمل د نېکمرغۍ لپاره نه دي جوړه شوي. يوازينۍ د نېکمرغۍ لاره توليدي پېژندنه ده. د سلگونو نسلونو تلاښ او پلټنه ده، د طبيعت او د ټولني د غوټو پرانيستل، د طبيعت او ټولني پر جبر باندي برلاسي کېدل او د داسې نظام جوړول، چي د انسان د تکيې وسيله وگرځي؛ هغه له يوازيتوب، ناتوانۍ، بې کسۍ او بې وزلۍ څخه ساتي.**

دغه سلگونه نسلونه، د خپل لاسي او فکري کار او ټولنيزو مبارزو د کړاوونو د زغملو څخه پرته بله چاره نه لري. تر څو چي انسان د خپلي خوښي سره سم د ځمکي پر سر ژوند کوي؛ ترهغو د وينو او اوښکو سېلابونه بهېږي. يعنې تاريخي، ټولنيز او له دردونو ډك تلاښ. په دې ناپېژانده تگلوري کې ټکريز او جگړه ائيز انقلابي دورانونه راځي او له لويو بحرانونو ډکي - بې ساري قربانۍ غواړي، لکه زموږ عصر.

نو اول خو نېکمرغي فردي نه ده، دوهم نېکمرغی ته رسېدل يو ناڅاپي کار نه دی، دريم نېکمرغی ته رسېدل آسانه کار نه دی. په ټوکو - ټکالو سره نشو کولای، چې دا جادويي، کوډګر او هيله من قلفونه پرانيزو.

کمزوري حکمتونه او ارادې، چې په هغې کې د ژوند کولو شهوت لوی او د عزم رامنځته کېدل کوچني وي؛ خامخا د کمزورۍ په کثافاتو کې د نېکمرغی په شکل تېر وځي.

**تاريخ خپل ريښتيني سرتېري د ښو ترينه انسانانو له منځه ټاکي او وروسته، هغه ډېرو وحشتناکو او سختو ځورونو ته نوماند کوي.**

د تاريخ د ميني اظهار دا ډول وي!!!

## ۵- د اوښتون ستر دوران

په لومړيو کې د ژوند پيدايښتيز او تکويني تګلورى پر دريو برخو ويشو: ۱) د لومړنيو ژونديو موجوداتو له پيدا کېدو څخه تر پريمات پوري (د لومړنيو تي لرونکو په څېر. ۲) د انسان له پيدايښت څخه تر اوسني عاقل انسان پوري. ۳) د ټولنيز پيدايښت دوران، چې تمدن په بر کې نيسي، چې دا دوران به په پای کي، د ټولنيز ژوندانه د تکامل لامل شي، يعنې کله چې ټولنه د انسان په بدني - رواني (سيکوسوماتيک) کې لاسوهنه وکړي. ددې آګاهانه مداخلې په پايله کې د انسان نوې نوع رامنځته کيږي. په حاضره ليکنه کي دا موضوع په بل ډول مطرح شوې، چې زما په نظر د منطقي پايلي لرونکې ده او د انګلس له نظر سره، چې کار د انسان په تکوين کې غوښينه برخه لري، يعنې هماغه د بيولوژي تيوري چې بورژوازي هم مجبوره ده تاييد يې کړي.

د انټروپولوژي څېړني دې پايلي ته رسېدلي دي، چي د انسان د پيدايښت دوې زانګوګاني دي: سايبريا او افريقا.

د بيولوژي او انټروپولوژۍ د علم د موندنو له مخي، د لومړنيو انساني نوعو پيدايښت (هوموپيته کوس او ارکتوس[44]) تقريباً درې ميلونه کاله کېږي.

د هوښيار انسان تاريخ چي موږ په خپله يو (هوموساپينس[45]) د پيدايښت يوازي څلوېښت زره کاله کيږي.

په دوو قطبونو سايبريا او افريقا کې له يو څخه تر درې ميلونه کالو کې بيلابېل ډوله (هوماي ګان[46]) رامنځته شوي، تر څو تر ننني انسانه راورسېږي. ويل کېږي، چي ننني انسان د آسيا له لويي وچي څخه د لوی کنګل په زمانه کې اروپا ته تللی.

شايد د سايبريا کنګل چي تر نن ورځي پوري هم شته؛ هغوی يې د اروپا شنو دښتو (چي تازه يې کنګل ويلي شوی وو) غرونو او پراخو شاړو ته د تللو لپاره اړ ايستل.

ويل کېږي کله چي اوسني انسان په اروپا کې ګام کښېښود؛ هلته (هومون اندرتالونو)[47] ژوند کوئ، چي په ښکار او نقاشۍ پوهېدل، خو ژبه او ليک چي د فرهنګي ميراث د انتقال وسايل دي؛ يې نه لرل. عاقلو انسانانو دا هم جنسه موجود له مينځه يووړ، ځکه بخت ورسره ياري کړې وه او اروپا د طبيعت پسرلي ته نژدې کېدئ، پخواني نژاد د پايښت توان نه درلودی او له هغه وروسته اروپا د تمدن زانګو شول. د بشر پېژندني په علم کې دا څېړني پر همدې ځای نه درېږي او نوي څېړني به ور باندي تازه مطالب زيات کړي، خو د ليکونکي لپاره چي دا ليکنه بېله موخه لري؛ توپير نه کوي.

---

[44] Homo pithecus erectus
[45] Homo sapiens
[46] homo
[47] Homo pithecus erectus

موخه مو، د انگلس د هغي وينا تائيد وو، چي کار انسان رامنځته کړ او وحشي ژوند يې ورته په ټولنيز واړوئ. ددا ټکي يادونه بايد وکړو، چي په وروسته دوران کې د انسان ټولنيزه مبارزه او معرفتي هڅي (البته له کار سره) د تمدن په غني کولو او د انسان په لوړوالي کې اغېزناکه واقع شوي دی او نوی پيدايښتيز جريان يې په (مردمش) کتاب کې ليکلی دی.

همدا مطلب له بلې زاويې څخه تشريح کوو. ننني عاقل انسان د اوښتون لويه دوره تېره کړې او د هغه تکويني اوښتون د شته طبيعي چاپيريال د محرک تناقض سره نه دئ (لکه څنگه چي د ژوند د تکوين په برخه کې داسي وو) بلکې شخړه يې د موجوده ټولنيز چاپيريال سره ده. ټولنيز چاپيريال هغه د خپلو ټولنيزو مبارزو او د علمي، هنري او تخنيکي – پېژندنيزو هڅو سره شېبه په شېبه بدلوي. نوی چاپيريال رامنځته کيږي او انسان مجبوره دی چي د نوي چاپيريال سره جوړ راشي (عيار شي) او نوې او بهتره سايکوسوماټيک ايجاد کړي.

که د انواعو په تکوين او تکامل کې د اوښتون مرکز جنيټيکي کوډونه وي؛ په ټولنيز تکامل کې د مغزي رشتو مرکز (کُرټيکال) او په نيورونونو کي دي، يعنې پيدايښتيزه قومنداني خپل ځای بدلوي.

دا چي انسان يو لوی تکاملي بهير تېروي؛ مارکس او انگلس ته د لمر په څېر روښانه وه. دوی په لنډ ډول سره ويل، چي اختيار يا آزادي د ټولنيز او طبيعي جبر پرته بل څه نه دي. د رازونو د خبرېدو سره، انسان د جبر څخه د اختيار د بدلولو په تگلوري کې دی.

يعنې څه؟

يعنې تاسو چې کله درک کړل، په کمي او کيفي اړخونو کي طبيعت بيلابېلوالی او فعل او انفعالات په کومه طريقه را منځته کوي او په دې پوه شئ، چي ټولنه خپلي کړني په کمي

او کیفي لحاظ څه ډول ترسره کوي؛ هلته توانېږئ، چې د طبیعت او ټولني قانونمندیو ته لاسرسی پیدا کړی او په خپله ګټه یې وکاروئ.

تر هغه وخته مو چې قوانین نه وي پېژندلي؛ هغوی پر تاسو حاکم وي. هغه مهال چې تاسو قوانین وپېژندل؛ تاسو بیا پر هغه حاکم کېږئ.

زرګونه کاله وخت غواړي، چې تاسو دا قوانین وپېژنئ او خپل ځان ددې قوانینو له زنځیره خلاص کړئ.

په اول کې انسان دا قوانین په خرافاتي شکل له ځان سره فرض کوي. بیرته یې عقلاني تصور د خپلو تجربو په رڼا کې جوړوي. په هغه وخت کې له ډیرو تجربو او عقلي پایلو د لاسته راوړلو وروسته یې واقعي پېژندني ته لاس رسی پیدا کوي.

**نو د داسي نړۍ څخه چې انسان پکښې طبیعت او ټولني ته مجبور دی او په دې اړخ کې د یو مریي او بندي په شکل درانه کارونه کوي؛ برخلیک یې د تورو وریځیو د باد لوری وي او داسې نړۍ ته اوښتل چې انسان پر طبیعت او ټولنه حاکم وي او د خپل راتلونکي اړیني پرېکړي پکښې په خپله ونیسي؛ سخته، اوږده او پرته له دمې قانون منده تیرېدنه غواړي.** که څه هم دا تګلوری د سیده کرښي تګلوری نه دی او حیرانونکی مارپېچه تګلوری لري.

هغه څه چي لیکوال دلته ور زیات کړي دا دي، چې که کار او د تولید د وسایلو[48] په کراري - کراري سره پریمات او هومایډونه أو هموارکتوس بدل کړل، ټولنیزه مبارزه او پېژندنه ده، چې هومو ساپینس په هومو بدلوي، چې د طبیعت په قوانینو پوه او کاملاً د

[48] د شوروي ټولنپوهان د تولید د وسایلو پیدایښت د نیم میلیون کالو پورې پخوانی بولي (پخواني تیرې). نو کله چې هوښیار انسان رامنځته شو، د قاعدې له مخې اوزارو د تکامل اوږد تګلوری وهلی او تر دې ځایه رارسیدلي.

نوي فيزيولوژۍ او رواني حالت لرونکی هم دی او هغه په تمامه مانا يو انسان شوی انسان دی: ټولنيز انسان ددې اصل سره موافق دئ:

### يو د ټولو لپاره او ټول د يو لپاره!

نو دې پايلې ته رسيږو، چي د انساني کېدو بهير د اوسني انسان په رامنځته کېدلو سره پای ته نه رسيږي؛ دوام لري او اوسنی انسان د انسانانو هماغه ورکه شوې ډله ده، چي غريزې پکښې د پخوانيو وحشي ډوله انسانانو په څېر ښکاره کيږي. په عين وخت کې يو لړ نوي پرمختگونه ( تمدن، ټولنيز ژوند، انساني تړاو، ټولنيز نظام، صنعتي او کرنيز توليد، علم، هنر او فن) پکښې رامنځته شوي، چي وحشي ځناور له هغه څخه هم پوه او خبر نه دي. پر همدې اساس د ځناورو له ټولگي څخه انساني ټولنه د کيفيت له مخې بل ډول ده.

نو د عاقل انسان، پر لور اوښتون تراوسه پای ته نه دی رسېدلی. دا کيسه لا دوام لري او مور تراوسه د پوره انسان پړاو ته (نه په معنوي او صوفيانه انداز بلکې په تمدني لحاظ) نه يو رسېدلي.

**ددې دوران اوښتون خلوېښت زريزي نيولي او خپل د پای ځرخ ته په قاطع ډول دننه شوی، نو انساني کمال يو تاريخي بهير دی، نه فردي او وگړنيز.**

ولي انسان مجبور شوی چي له کړاوونو دومره ډکه لار وټاکي؟ ځکه د توليد په جريان کې يې خصوصي مالکيت په لار کې ولوېدئ.

څرنگه چي ښکاره ده خصوصي مالکيت د اوزارو او وسايلو په نه پرمختللي او د محصولاتو د لږ والي په دوران کې رامنځته شو، يعنې هغه وخت چي انسان د عمومي فرهنگي کمزورۍ (وسايلو، د پېژندني کچي او اړيکو د نشتوالي) د وجي حتی په دې هم نه توانيدئ، چي خپلي لومړنۍ اړتياوې په لږه کچه هم پوره کړي.

په دې دوران کې محدودو وګړو د قوم، قبيلې، طايفې او پلارواکۍ په اتکاء او وروسته د بازار او سود په واسطه د ټولني د کار محصول غصب کړی، تر څو په خپله ښه ژوند وکړي.

د شتمنۍ او غصب شوي مالکيت په زور د وګړو دا ټولګه له نورو څخه پياوړې شول. نو د خپل امر د چلولو لپاره يې بشري ټولنه په دوو لعنتونو (خصوصي مالکيت او جبريه دولتي ځواک) سره محکومه کړل.

شر پيل شو. پيسې د شتمنۍ په نماينده او ظلم (زندان - جسمي او رواني ځورونه) د دولت په نمايندګانو واوښتل. د شتمنۍ څخه محروم خلګ، چي په خپله د مولده کار په واسطه د شتمنۍ را منځته کونکي ول؛ د زر او زور خوراک شول.

د شتمنۍ او ټولني يووالی په دې ډلو وويشل شو. د امتياز خاوندان او د هغو ګوډاګيان او بله ډله عام ولس چي د ټولني لويه برخه تشکيلوي. انساني کورنۍ ټوټه - ټوټه شول او ټولنيز جدل پيل شو.

دا وضيعت په ټول سختوالي او او بې عدالتي سره د هغه مهال نه بدلېدونکی حالت وو، خو له دې سره - سره مطلق شر نه وو.

شتمن کله –کله داسي کړني ترسره کوي، چي هيڅ ګټه نه لري او کله بيا د داسي کړنو ترسره کونکي وي، چي ګټه لري. فرهنګي پرمختګ غالباً د دوی د مدبرو مشاورينو له خوا ورباندي تپل کېږي او د زيارکښو استادانو په واسطه پنځېږي.

**د بېلګي په ډول، که په هغه وخت کې د کار محصول او کار د خلګو ترمنځ د ترسره شوي کار پر بنسټ وېشل شوی وای؛ هيڅکله به معبدونه، هرمونه، پلونه، لاري او کوڅې، قلاګانې، ماڼۍ او باغونه، د کور رنګارنګ توکي، بېړۍ، بازارونه، کتابتونونه،**

**پوهان او هنرمندان هم نه وای رامنځته شوي. شاید اقتصادي عدالت ښه تره وای، خو فرهنګ اومدنیت یې بار نه شوای وړلای.**

ظلم او زیاتي، د اوښکو او وینو رودونه وبهول، عدالت او حقیقت یې چې هر ځای کې مزاحم شوی وو؛ د مال په واسطه یې له مخې لرې کړی، خو د خپلو امتیازاتو د ساتنې لپاره یې خپل غصب کړي مالونه د فرهنګ په غني کولو کې هم لګولي،

**خو دا چاره، زور، زیاتي او اشرافیت ته د تل لپاره برئت نه شي ورکولای او توجیه کولای یې نه شي، یوازینی چاره یې تاریخ راته توضیح کوي او دا بیانوي چې په څومره حیرانونکي ډول سره، د انساني فرهنګ تکامل او د عاقل انسان سفر په یوې فاجعې واوښتی.**

عملاً دا دوران تر نن ورځې پورې دوام لري او موږ یې د اشرافیت او امتیازغوښتنې د ظالمانه شکل سره مخ یو، حتی په پرمختللې نړۍ او متحده ایالاتو کې هم. هغه څوک چې د امتیازاتو لرونکي دي؛ هم ددې جبر څخه په امن نه دي پاتې او دا جبر یې پر سر تېر کړی، چیري لا پاته د بشر نور اکثریت شو، چې هر یو خپل رنځور لیک او رنځورنامه لري. پانګوالۍ د محرومیت او امتیازاتو دوه قطبونه آسمان ته وخېژول او په داسې حال کې چې د انسان د نېکمرغۍ لپاره هر ډول وړاندوینه شته ؛ انسان یې د ټولو دردنو او رنځونو سربېره، په جګړو او تیارو کې ټیټ راوستی دی.

خبره په دې ځای کې ده، چې د ټولنیزې مبارزې او د پېژندنې عامل اوسمهال داسې ځای ته رسیدلی دی، چې د هرې ونې جرړه، چې لس ګونه او سلګونه زره کاله پخوا بنده شوې وه؛ هم پرانیستلای او سپړلای شي.

اړینه ده چې زموږ نسل په دې ټکي وپوهېږي، چې دا تاریخي ځانګړتیا یوازې زموږ د دوران د نسل ده. اړینه دا ده، چې زموږ نسل دا ومني، چې هیڅکله هم انسان په داسې

دوران کې ژوند نه دی کړی، چې د یوې خوا څخه دي انساني ګټه وي او له بلې خوا دي هغه جګړه هم د خپل همنوع سره دومره ستونزمنه او وینه تویونکي وي.

**تر ټولو بیا اړینه داده، چې زموږ نسل دا ومني، ټولنیزه او معرفتي مبارزه او په ځانګړي ډول په لومړۍ درجه کې بنسټیزه - ټولنیزه مبارزه (طبقاتي جګړه) د مسئلې د حل بنسټیزه کیلي ده.**

نو لکه څرنګه چې زموږ میلونونه نیکونه پریمات، هومویډونه او لومړني هوموګان په تالندي او برېښنا، سرکښۍ، تودوخي او یخنۍ، وچکالۍ، جګړو، بندیخانو او نورو پېښو کې په داسې هلاکونکي ډول مړه شول، چې یادونه یې ناممکنه ده، په غرونو دښتو او شګلنو دښتو او صحراوو کي ټوټې ـ ټوټې او په خوارۍ سره ووژل شول؛ پرته له دې چې وپوهېږي، دوی د تکامل د لوی څرخ اړونکي دي. موږ باید نن ورځ په دې زماني پړاو کې خپل د شعور لوړولو ته دوام ورکړو.

زموږ لار د هماغې پراخي لاري دوام دی، چې له ډیري مودې څخه زموږ په سیاره کې پرانیستل شوي دي.

اوس که موږ دا درک نه کړو چې څه به کېږي؟ تاریخ نه درېږي اوخت نه ګډوډېږي!

**د انساني فرهنګ څرخ، که څه هم د ځوانانو او زړو په وینو لړلي جسدونو باندي هم وي؛ بیا هم پر مخ ځي!**

تراوسه لا هم موږ له هغه دوران څخه لیري یو، چې وکولای شو انساني برخلیک پر خپل لاس باندي مهار کړو. موږ اوس هم د برخلیک د لوبو وسیله یو. اوس چې داسي ده، دا به ښه نه وي، چې د لوبو د آلې پرځای مبارزین او زیارکښ شو؟

شاید دې ته مو لومړیتوب ورکوئ، چې موږ د تاریخ په دې اساسي او له جدله ډک بهیر کې مو بېخي ژوند نه وای کړی؟ د تاریخ په اوږدو کې، د خلګو لپاره آرام برخلیکونه لږ نه ول. د شاعر په وینا: (د ځینو کسانو لپاره ژوند د هغه پر اوږو د اوسپنې صلیب وي او د ځینو لپاره د سرو زرو د لوبو آله وي.) دا د ظالمانو او د پانګې د خاوندانو پرېکړه ول، چې ترټولو زیات زیان یې خپلو همنوعو ته ورسوئ.

**ولې تاریخ ریښتینو شهیدانو او اتلو بچیانو ته اړتیا لرله او لا یې لري. ځیني یې نوم ورکي دي او ځیني هغه دي چې نوم یې موږ ته مالوم دی. ځکه له دوی څخه ماسېوا تاریخ لار نشي پرانیستلی. هغوی لوی عذابونه په پټه خوله تېر کړي او تیروي یې، خو د امتیاز او ظلم په توره ډېره کې، یې لوی درز جوړ کړی او هغه درز لا پسي پراخوي، همدا د تاریخ اړونه ده!** پر همدې اساس ویل شوي: (د تکامل خدای د شهیدانو د سر په کاسه کې څښاك کوي.)

ددې لنډي لیکني پایله دا چې:

۱) د انساني کېدو بهیر دوام لري او لا پای ته نه دی رسېدلی، محرك یې ټولنیز پراتیک (عمل) دی، چې بېلابېل شکلونه لري.

۲) موږ د طبیعت او تاریخ د مجبور انسان څخه د آزاد انسان پر لور د اوښتو په دور کې یو. ددې طبیعي او ټولنیزو قوانینو پېژندنه په دې چاره کې راسره مرسته کوي.

۳) زموږ عصر د لویو غوټو پرانیستونکی دی. په دې عصر کې، سیوري او روڼاوي، هیلي او ګواښونه شته، خو په ښکاره ډول سره موږ د روڼا پر لور ځو او نوی بشریت به خپل ژوند را پیلوي.

۴) اوسنی انسان اوس هم د حیواني غرایزو تابع دی، چي شاید د راتلونکو انسانانو یو اقلیت بېلګه هم ژوند ورسره کوي او له دې حالته به سخت کړېږي، خو راتلونکی به ددوی د کار د ځلېدو ډګر وي.

۵) حیواني نېکمرغي د مال او څواك په لاسته راوړلو کې ده او انساني نېکمرغي د بشري فضایلو او د حق او عدالت په لار کې د بشر په ګټې او اتلولۍ کې. وروستی خوند هغه خوند دی، چي انساني او غیر حیواني دی.

٦) تاریخ نه د خاینانو او نه د خپلو خادمانو دوسیه، که څه هم نوم ورکي وي؛ له یاده نه باسي او د دوی جنت او دوږخ به د دوی یادونه وي. که انسان په خپل جسم کې فاني دی، خو په تاریخي کړني کې تلپاتی او ابدي دی او د بشریت لعنت او رحمت له ځان سره لري.

## پای

**د کتاب له متن څخه:**

"هغه بشر چې تراوسه بشر نه دی؛ هغه بشر چي تراوسه خوراک، څښاک، خوب، دوښمنۍ او شهواني غرایز باندي غالب دي. هغه بشر چي تراوسه ځاني بشر دی؛ نه ټولنيز. تراوسه «زه» دی، نه «موږ». «هغه «زه» چي «زموږ» ځېبښي، ترڅو په خپل شدادي جنت کې ژوند وکړي."